د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او
درسي کتابونو د تالیف ریاست

# پښتو

## لسم ټولګی

## (د دري ژبو لپاره)



د چاپ کال: ۱۳۸۸ لمریز

**د پوهنې وزارت**

**د تعليمي نصاب د پراختيا او**

**درسي کتابونو د تاليف رياست**

# پښتو

# لسم ټولګی

# د دري ژبو لپاره

**درسي کتابونه په پوهنې وزارت پورې اړه لري. په بازار کې يې اخيستنه او خرڅونه په کلکه منع ده. له سر غړوونکو سره قانوني چلند کېږي.**

**د چاپ کال: ۱۳۸۸ لمريز**

# دبیا کتنې کمېټې

## د ژبې او محتوا کمېټه:

ـ سید احمد مومند د پوهنې وزارت سلاکار.
ـ د مؤلف مرستیال محمد عزیز تحریک د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف ریاست د پښتو دیپارتمنټ علمي او مسلکي غړی او د پښتو دیپارتمنټ آمر.
ـ د مؤلف مرستیال فیض الله فائېز د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف ریاست د پښتو دیپارتمنټ علمي او مسلکي غړی.
ـ شکیلا دوست د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف ریاست د پښتو دیپارتمنټ علمي او مسلکي غړې.
ـ د سرمؤلف مرستیال سید محمود کارگر د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف ریاست د پښتو دیپارتمنټ علمي او مسلکي غړی.
ـ د مؤلف مرستیال محمد سهراب دیدار د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف ریاست د پښتو دیپارتمنټ علمي او مسلکي غړی.
ـ بسم الله د ملالۍ د لیسې ښوونکی.

## دیني، سیاسي او فرهنګي کمېټه:

ـ ډاکتر محمد یوسف نیازی د پوهنې وزارت سلاکار.
– محمد آصف ننګ د پوهنې وزارت د خپرونو او اطلاعاتو رئیس.
ـ رقیب الله ابراهیمي د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف ریاست د اسلامي تعلیماتو علمي او مسلکي غړی.
ـ د مؤلف مرستیال محمد سهراب دیدار د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف ریاست د پښتو دیپارتمنټ علمي او مسلکي غړی.

### د څارنې کمېټه:

– ـ دوکتور عبدالغفور غزنوي د پوهنې وزارت د تعلیمي نصاب د پراختیا، د ساینس مرکز او د خپرونو مرستیال. دکمېټې رئیس
– محمد صدیق پتمن د پوهنې وزارت تدریسي مرستیال. غړی.
– د سرمؤلف مرستیال عبدالظاهر ګلستاني د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف رئیس. غړی.

## کمپوز او ډیزاین:

ـ صفت الله مومند د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف ریاست د کمپیوټر دیپارتمنټ غړی.

بسم الله الرحمن الرحيم

## پیغام

د لوی خدای (ج) شکر ادا کوو چې زموږ د مجاهد ملت دکلکې ارادې، بیدریغه قربانیو، د ملګرو ملتونو او د نړۍ د بشردوستو هېوادونو د نیکو هلوځلو په پایله کې په هېواد کې سراسري سوله او مشروع سیاسي نظام ټینګ شو او له جګړې څخه را پیدا شوی ځوکلن کړاو یې پای ته ورساوه. د افغانستان اسلامي جمهوریت او په سرکې یې جلالتمآب حامدکرزی د واکمن وګړنیز نظام لـه پېـل څخه ملي سترو مـــوخو ته د رسېدو په هیله د هېواد د بیارغاونې او پراختیا په ټولو برخوکې د نـوو پروګرامونو تګلاره پېل کړې ده. د ښوونې او روزنـې پـه برخـه کـې او د معـارف د نـوي کیـدو او غوړېدو په لاره کې هڅې، د ملي یووالي، متمدنو، رښتینو او د پیاوړو مسلمانانو په توګه د نوی ځوان نسل د روزنې په برخه کې د دغه جلالتمآب زیات ملاتړ او زړه سواندې لارښوونې چـې تـر تطبیـق لاندې دي د ډېرې درناوي وړ دي.

دپوهنې وزارت دهغو لارښوونو او نوښتونو له جملې څخه چې دافغانستان دپوهنې د بیارغاونې په لاره کې یې ترلاس لاندې لري، د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتـابونو د تـالیف ریاسـت تـه دنـده ورکړې ده چې له یوې خوا د ښوونځیو د لوست دکتابونو دکمښت او نشتوالي ستونزه لرې کړي او له بل پلوه د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د علمي او فرهنګي پالیسۍ اوموخـو پـه رڼـا کـې د داسې واحد تعلیمي نصاب په ترتیبولو بوخت شي چې د هېواد اوسنیو او راتلونکو اړتیاوو ته ځـواب ووایي. زموږ نوی تعلیمي نصاب چې د افغاني ټولنې له غوښتنو او نړیوالو معیارونو سره عیـار شـوی، موخه یې د هېواد د بچیانو د اسلامي اوعلمي روزنه اوزده کړه ده چې په نتیجه کې یې دپـوهنې د زده کوونکو، ماشومانو، تنکیوځوانانو او ځوانانو په ذهن کې سالم تفکر پیاوړی او هغوی د نوې پوهې له ارزښتونو سره آشنا کوي. زموږ د هېواد ځوانان باید متدین مسلمانان، هیوادپال، بشرپال او د پوهې او کمال پر ګاڼه سمبال انسانان وروزل شي ترڅو د علومو د پرمختیا او معاصر تمدن له پرمختـګ سـره اشنایي ترلاسه کړي او په ټینګ هوډ سره له هغو نوو او مثبتو بدلونونو څخه چې رامنځته شـوي دي ګټه واخلي. دنوي افغانستان او د یوې سوکاله ټولنې د جوړونې په موخه د سـاینس او تکنـالوژۍ لـه بدلونونو سربېره باید د انساني علومو له بنسټونو، د بشري حقونـو د سـاتنې، سـولې، هېوادپـالنې، ملـي یوالي، د استوګنې د سالم چاپیریال د ساتنې اوسوله ییز ګډ ژوند څخه خبر وي. د جهل له تورتم او د مخدره توکو له تولید او قاچاق سره مبارزه د خپلوزده کړوپه سرکې په پام کې ونیسي.

موږ له رښتینو، زړه سواندو اوتجربه لرونکو ښوونکو څخه چې د نوي تعلیمي نصاب په تطبیق کې د هېواد د بچیانو د زده کړې او روزنې سترمسؤلیت پر غاړه لري او دغه راز د هېواد د پوهنې د برخې له نورو علمي، فرهنګي شخصیتونو او پوهانو څخه هیله لرو چې د خپلو رغنده نظرونو او وړاندیزونو په وړاندې کولو سره زموږ له لیکوالو سره د درسي کتابونو په لیکلو او بیاوړي کولو کې مرستې وکړي. په همدې ډول له تمویلوونکو هېوادونو او درنو سازمانونو (د امریکا د متحده ایالتونو د نړیوالې پراختیا اداره، دانیدا، یونیسف، نړیوال بانك اویونیسکو)څخه چې دکتابونو په تـالیف او چاپولوکې یې د پوهنې له وزارت سره مادي اوتخنیکي مرسته کړې ده مننه کوو. له ټولو ګرانو زده کوونکو، درنو ښوونکو او محترمو میندو پلرونو څخه هیله کوو چې د درسي کتابونو په ښه ساتنه کې خپله مرسته ونه سپموي.

**فاروق وردک**

دافغانستان داسلامي جمهوریت دپوهنې وزیر

# لړلیک


| سرلیک | مخ |
|---|---|
| حمد | ۱ |
| نعت | ۲ |
| احمد شاه بابا | ۳ |
| د سولې ترانه | ۵ |
| املایي لارښوونې | ۷ |
| ترانه | ۱۲ |
| قوي او ضعیف | ۱۳ |
| داوښکو ارزاني | ۱۶ |
| رحمان بابا | ۱۸ |
| د رحمان بابا د کلام نمونه | ۲۰ |
| حکایت | ۲۲ |
| پښتو متلونه | ۲۳ |
| اخلاص | ۲۷ |

| سرلیک | مخ |
|---|---|
| حضرت سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه | ۲۹ |
| همدرد ي | ۳۱ |
| مذکر او مؤنث | ۳۲ |
| چې ګټل خورول بخښل .... | ۳۴ |
| د وخت ارزښت | ۳۵ |
| مفرد او جمع | ۳۷ |
| وطن وايي | ۴۳ |
| د حضرت حسن بصري رحمه الله له... | ۴۵ |
| تاته راشمه زړګی... | ۴۶ |
| د زوی روزنه | ۴۷ |
| یو ځنګلي سړی | ۴۸ |
| حقایق | ۵۰ |
| د بد نیتی نتیجه | ۵۲ |
| د نوم حالتونه | ۵۵ |

| سرلیک | مخ |
| --- | --- |
| د نوم لفظي حالتونه | ۵۷ |
| علامه سید جمال الدین افغان | ٦٠ |
| علم | ٦۴ |
| په اسلام کې د کار ارزښت | ٦٦ |
| د رسول اکرمﷺ نصیحت | ٦٨ |
| د حج قېمت | ٦٩ |
| رښتیا ویل | ٧٠ |
| دناپوهۍ رنځ | ٧٣ |
| مرسته | ٧۴ |
| د علماوو فضیلت | ٧٧ |
| نه بدلېدونکي نومونه | ٧٨ |
| حکیمانه خبرې | ٧٩ |
| طمع | ٨١ |
| لنډۍ | ٨٣ |
| اجتماعي لنډۍ | ٨۴ |
| حماسي لنډۍ | ٨۵ |
| مسلم ته خطاب | ٨٦ |
| لیک نښې | ٨٨ |
| لږ ویل ډېر کار کول | ٩١ |
| د ژوند چاپېریال | ٩٢ |
| بشري حقونه | ٩٣ |
| مخدره توکي | ٩۵ |

# حمد

په نامه د هغه خدای مې دا بیان دی
چې یو نوم یې په نومونو کې سبحان دی
هم باداشاه دی د جمله وو باداشاهانو
هم د هر یوه سلطان په سر سلطان دی
په سجود یې ځمکې سر دی لګولی
هم یې ځوړند په رکوع سره اسمان دی
هره ونه په قیام ورته ولاړه
هر ګیاه یې په تسبیح سره زبان دی
همه واړه په تسبیح دده مشغول دي
که ملك دی که پیری دی که انسان دی
هر ماهي یې په دریاب کې حمد وایي
هر مارغه یې په چمن کې ثناخوان دی
منزه دی له جمله ووجهتونو
او بیا هر جهت په ده باندې ودان دی
له زرګونو صفتونو راشه ګوره
چې یې کړی نیم صفت عبدالرحمٰن دی

(عبدالرحمٰن بابا)

---

| لغت: | معنی: |
|---|---|
| حمد | د خدای ﷻ صفت او ستاینه |
| معرفت | پېژندنه |
| نمایان | څرګند، جوت |
| عیان | ښکاره |
| منزه | پاک |

# نعت

رب العالمين دې رحمةً لـلعلمـين ګـڼـي
نه لـرې ثاني چې دې خـــــاتم النبيين ګڼي
ډېر خلك دې وا ېستل تيارونه د رڼا لورته
ستالاس کې رڼا مسلمانان نور الــيقين ګڼي
ته په مومنانومهربـــانه له هــرڅــا نــه وې
ځکه دې رؤف رحيـم ارحم الرحميـــن ګــڼي
ستا خلق عظيم خو په قرآن کې خداى ستايلى دى
نـور خلق لاڅه چې مشرکان دې هم امين ګڼي
ډېردې له دوزخه ګرځولي دجـنــت لــورتـه
ښايي درسره چې دې شفيع المذنـبـين ګڼي
تا مومن پر بعث بعد الموت بـانـدې مومن کړلـو
نه مري مومنان آب حيات داسلام دين ګــڼي
غيب ته دې نــظر مــتوجه دمــومنــانو کـړ
ځکه حيواني نظر سطحي او ظاهر بين ګڼــي
دې دنيا نه ښه بله دنياځانته مومن لـــــري
هلته مؤمن هرڅه لري کله ځان مسکين ګڼي
بارد دنيا هرڅومره که سپك وي څه پروا لري
تله دعمل يې که درنه وي ځان ســنګين ګـڼي
ستامينه مې بس ده چې له ځان سره يې خداى ته وړم
ستا رضا" الفت" رضا د رب العــالمين ګڼي

(ګل پاچا الفت)

سپارښتنه:

- ښاغلی ښوونکی دې پورتنی نعت د زده کوونکو له سويې سره سم معنا کړي.
- ښاغلی ښوونکی دې دنعت ګران لغتونه له معنی سره پر تخته وليکي او بيا دې پر زده کوونکو تکرار کړي
- زده کوونکي دې د نعت هر بيت معنا او په نثر وليکي.

# احمد شاه بابا

احمد شاه بابا په اصل سدوزی او د محمد زمان خان زوی و، چې په"۱۱۳۵"هـ ق کال کې زېږېدلی و.
پلار یې دهرات مشر و، او پر پښتونوالي یې د خپل زوی پالنه وکړه اوننګیالی یې وروزه.
احمد شاه بابا د نادرافشار په عسکرو کې دپښتنو یو توریالی مشر و. د نادرافشار ترمرګ وروسته په (۱۱۶۰) هـ ق کې دافغانستان مشران سره ټول شول او دی یې د"شیر سرخ بابا" په زیارت کې چې دوه میله د کندهار د ښار جنوبي خواته پروت دی، په پاچاهۍ وټاکه او صابر شاه مجذوب په هغه زیارت کې داحمد شاه بابا پر سر جوغه (د غنمو وږی) ورکښېښوده. احمد شاه بابا خورانېك خویه، مشفق او ننګیالی و.دخپل اولاد او دبل چا فرق یې نه کاوه. پر بې وزلو ډېر مهربان و.
احمد شاه بابا په افغانستان کې دافغانانو دسلطنت موٴسس و چې په لږو کلونو کې یې دافغانستان ټول حدود په سیاسي نقشه کې

داخل کړل، ننګيالي احمد شاه بابا دخپلې خاورې دپراخوالي لپاره هندوستان، خراسان او ځينې نورې سيمې په خپله واکمنۍ کې شاملې کړې او په دې برخه کې يې زيات بريااليتوبونه ترلاسه کړل.

دحضرت محمد ﷺ خرقه مبارکه هم احمد شاه بابا له بخارا څخه کندهار ته راوړې ده. په ايران کې يې د نادرافشار اولاد پر پاچاهۍ پرېښود .احمد شاه بابا دټول ملت دپلار پر ځای ګڼل کېده. او د افغانستان يو داسې پاچا و چې دافغانانو همت يې ټولې نړۍ ته څرګند کړ.

احمد شاه بابا له شپږويشتو کالو پاچاهۍ وروسته په (١١٨۶ هـ ق ) کال وفات شو او خپل نوم يې دافغانستان په تاريخ کې په زرين خط پرېښود .

---

سپارښتنه:

- ښوونکی دې له څو زده کوونکو څخه وغواړي چې د احمد شاه بابا په اړه خپل معلومات نورو ته وړاندې کړي.
- زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې د احمد شاه بابا په اړه څو کرښې مقاله وليکي.

❖ کله چې احمد شاه بابا دمشهد ښار له شاه رخ ميرزا څخه ونيو د خپلې مېرانې له مخې يې په هغه احسان وکړ او د پاچهۍ تاج او تخت يې بيرته شاه رخ ميرزا ته وسپاره.

# د سولې ترانه

بیرغ د سولې مو په لاس کې د زړه سر دی | سولــــــه غواړو
جګړه دې ورکه شي جګړه کې د بر خطر دی | سولــــــه غواړو

۞۞۞

مــونږه د سولې پرښتې یــو | ګران وطنــــــــــه
سپینې کوترې ښایستې یــو | ګران وطنــــــــــه
جوړې د سرو ګلودستې یــو | ګران وطنــــــــــه
دغه آواز موپورته کړی لراو بـردی | سولــه غــواړو

۞۞۞

هـر څوك د سولې طرفدار دی | جنګ دې نه وي
سوله د سروګلـوګلـزاردی | جنګ دې نه وي
جـوړد بلبلو پـرې چغـاردی | جنګ دې نه وي
دجنګ له لاسه ټول عالم زیروزبر دی | ســولــه غــواړو

۞۞۞

چې ورانوي ودان کــورونه | کور یې وران شـه
چې بـلـوي د جنګ اورونــه | کــوریې وران شـه
چې راولي مـونږ ته غـمونـه | کــوریې وران شه
سولـــه کې امن په جګړه کې واړه شر دی | ســولـــه غـــواړو

۞۞۞

| | |
|---|---|
| سوله د لمر غوندې توده ده | تل دې اوسي |
| سوله د شاتو نه خوږه ده | تل دې اوسي |
| سوله د ژوند د ساز نغمه ده | تل دې اوسي |
| سوله زمونږ د نوي ژوند د شپې سحردی | سوله غواړو |

(نصرالله حافظ)

---

❖ ښوونکی دې د سولې د ګټې او ارزښت په اړه خبرې وکړي.

| لغت: | معنی: |
|---|---|
| امن | امنیت او آرامي |
| تل | همېشه |
| ودان | آباد |
| جګړه | جنګ |
| عالم | مخلوق |

- ښاغلی ښوونکی دې د پورته ترانې د بیتونو څېپې زده کوونکو ته وشمېري.

❖ زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې د سولې د ارزښت په اړه څو کرښې ولیکي.

# املايي لارښووني

املا پـه لغـت کـې مهلـت ورکولـو او ډکولـو تـه وايـي او پـه ادبـي اصطلاح خپلې خبرې يادبل چا خبرې په صحيح ډول ليکلو تـه املا وايي. دليکلو په وخت کې بايد لاندې ټکي په پام کې ونيول شي.

۱. څه چې ليکئ بايد دصحيح ويلو له مخې يې وليکئ اوپه غلطو ويلـو پسـې ولاړنـه شـئ، پـه هـره ژبـه کـې دعـوامي او ادبـي ژبـو ترمنځ يو څه توپير شته.

لکه په پښتو ژبه کې (څېکی) وايي او (څه يې کوې) ليکي.

۲. دوې بېلې کلمې بايد په ليکلو کې يـوه لـه بلـې سره ونـه نښلوو لکه ټول سړي چې دا بايد په دې ډول ونه ليکو (ټولسړي).

۳. که له دووکلمو څخه يوه کلمه جوړه شوې وي لکه (ټوليمشر) نـو په ليک کـې يې بيلـول ښــه نه دي همدغه شان (خپلواك) ديـوې کلمې غوندې ليکو او ( واك) ( له) (خپل) څخه نه بېلوو.

د دغه اساس له مخې د(بيلتانه) کلمه دجدايۍ په معنا بايد داسې ونه ليکو، لکه: بېل تانه.

۴. د املاء په ليکلو کې دامراعات هم ضروري دی چې يوه کلمه دبلې په شان ونه ليکو مثلاً (پوښتنه) دتپوس په معنا او (پښتنه) دپښتون ښځينه کلمه چې بايد په ليکلو کې يوه له بلې سره فرق ولري. همدارنګه (ګوډ) او (ګډ) يوشان ونه ليکو (نوي) دجديد په معنا، (نه وي) د(نباشد) په معنا هم بايد فرق ولري.

۵- په فارسي،عربي او پښتو ليك كې داسې كلمې شته چې له ځينو نورو کلمو سره يې توپير نه کېږي لکه (شېر، شير) چې يوه کلمه دشيدو او بله يې د زمري په معنا ده چې دجملې له مخې يې معنا معلومېږي مګر په پښتو ليك کې د د غسې کلمو توپير په آسانۍ کيږي ځکه په پښتو کې دا"ې" له دې "ي" سره توپير لري لکه "تېر" او "تير" ولې بيا هم په پښتو کې داسې کلمې شته چې دجملې له مخې يې معنا ښرګندېږي لکه "خوله، خوله، په دې لاندې جملوکې:

خوله يې په سر وه،په خوله کې يې خبره نه درېږي، خوله يې وکړه.

۶- په پښتو کې د کولو او نه کولو "نه"مه" توري له افعالو څخه بېل ليکل کېږي لکه "نه ځي،" نه کوي،" نه ويني،" مه وايه،" مه کوه"، مه ځه" ،مه غواړه".

۷- پښتو توري: په پښتوکې ځيني توري شته چې په فارسي او عربي کې نشته ددغو تورو ځای پېژندل په پښتو املا کې ډېر ارزښت لري چې هغه دادي:

ښ: - داتوری ځينې پښتانه"خ" ته نږدې اداکوي او ځينې يې داسې وايي چې آواز يې د"ش" غوندې وي او په داسې لغاتو کې ليکل کېږي لکه: "ښه، لوښی، اوښ" چې څوك يې يو ډول او څوك يې بل ډول تلفظ کوي.

کومه کلمه چې يوازې "خ" يايوازې"ش" اداکېږي هلته دغه توري نه ليکل کېږي لکه "ختېه، خاوره،شګه، شفتالو" په دغه اساس بايد "خندل" په "خ" "شندل" په "ش" او"ښندل" په "ښ" وليکل شي چې د درې واړو کلمو معنا ګانې وساتل شي.

ږ:- داتوری ځيني پښتانه لکه "ژ" او ځيني يې لکه"ګ" اداکوي. نوکومې کلمې چې يوازې د"ګ" يا"ژ" غوندې ليکل کېږي هلته بيا دا توری نه راځي. لکه (مالګه، ګوړه، ژبه، ژرنده)

او یا په هغو کلموکې لیکل کېږي چې د لهجو د اختلاف په وجه دغه دوه آوازونه ولري چې هم "ژ" تلفظ شي اوهم "ږ" لکه "ږلۍ، لږ، کوږ."
ځ:- ددې توري آواز د"ز" څخه لږ څه درونـد دی چې په ځینو پښتو کلمو کې یې لیکل ضروري دي. لکه "ځان، ځنډ، ځیرك" او نور...
په پښتو کې ځینې کلمې شته لکه "ځه" چې د تللو امر دی ، که داکلمه په "ز" ولیکل شي نو"زه" د متکلم ضمیر ترې جوړېږي.
همدغه شان د"ځوړ" کلمه که په "ز" ولیکل شي نو د"زوړ" سره یې توپیر نه کېږي، کومې کلمې چې په فارسي کې په "ج" ویل کېږي او په پښتو کې په "ځ" نو هلته دې همدغه پښتو "ځ" ولیکل شي لکه "ځوان، ځنګل، ځان". سر بېره پردې په هغو کلمو کې یې لیکل هم ضروري دي چې که په "ز" ولیکل شي نو د پښتو یو بل لغت سره اړېکې پیداکوي لکه: ځړېدل، زړېدل.
ښ:ـ دا هم د پښتو توری دی چې فارسي او عربي کې نشته او تلفظ یې "س" ته نږدې دی او ځینې کسان یې د"س" پرځای استعمالوي. که د دغه توري پرځای "س" ولیکل شي نو دځینو کلمو معنا بدلېږي. لکه "ښټ، ښوك" چې "سټ" او سوك" ترې جوړېږي.
ډ ، ټ، ړ، دا توري هم په پښتو املا کې ډېره زیاته برخه لري چې ځای پېژندل یې ډېر ضروري دي او صحیح تلفظ یې پکار دی. که یو لیکوال په لیکلو کې د"ټ" پر ځای "ت" د "ډ" پر ځای "د" او د "ړ" پر ځای "ر" ولیکي نو د ځینو کلمو معنا بدلېږي.
لکه د (وړ، ټول، ډار، څخه "ور، تول، دار" جوړېږي.

ڼ:- داتوری له (ن) څخه دروند ادا کېږي لکه (مڼه، بڼ، تڼۍ).
پخوانیو لیکوالو او اوس هم ځینې لیکوال دا توری (نړ) لیکي چې دوه توري (ن) او (ړ) یې سره یو ځای کړي او د یو توري نوم یې ورباندې ایښی دی.
دا توری باید په ساده ډول (ڼ) ولیکو ځکه چې په مرکب ډول یې لیکل په ځینو کلمو کې ستونزې پېښوي لکه (نړۍ، خونړی، کونړ، نړول) او داسې نور...

---

پوښتنې:

۱. املا په لغت کې څه ته وايي؟
۲. ولې په لیکلو کې د املا مراعات ضروري دی؟ په څو کرښو کې یې ځواب ولیکئ.
۳. لاندې تورو ته مناسبې کلمې جوړې او بیا یې په جملو کې وکاروئ!
(څ، ځ، ډ، ړ، ږ، ټ، ڼ، ښ)

سپارښتنه:

- ګرانو زده کوونکو! تاسې باید په خپلو لیکنو کې د پورتنیو املایي قوانینو او لارښوونو مراعات وکړئ.

# ترانه

د جهل دوره تېره شوه دا عصر د عرفان دی — بې علمه ژوندون ګران دی
په حق پسې روان يو
دعلم پتنګان يو
دجهل دښمنان يو
لښکر د معارف يو، لوړ زمونږ نام ونښان دی — بې علمه ژوندون ګران دی
روان مخ په رڼا يو
ښاغلي ددنيا يو
د هر مرض دوا يو
شپه تېره شوه د جهل، لمرختلی د عرفان دی — بې علمه ژوندون ګران دی
په زده کړه او ښوونه
دحق کوو پالنه
د خپل وطن روزنه
زمونږ ګرانه وطنه دا مو عهددا مو پيمان دی — بې علمه ژوندون ګران دی
د علم په زانګو کې
دعقل په کوځوکې
په غيږه د پښتو کې
لوی شوي يو مونږ واړه خپل وطن راباندې ګران دی — بې علمه ژوندون ګران دی

(ګل پاچا الفت)

| لغت: | معنی: |
| --- | --- |
| جهل | ناپوهي، ناداني |
| عرفان | پوهه او پېژندنه |
| لوړ | اوچت |
| معارف | پوهنه |

**تمرين:**

- په لوستل شوې ترانې کې هموزنه کلمې پيدا او بيا يې په جملو کې وکاروئ.
- د معارف په هکله يو لنډ مضمون په څو کرښو کې وليکئ.
- ښوونکی دې د ترانې په اصلي مفهوم رڼا واچوي.

# قوي او ضعیف

د دنیا دود او دستور خو دا دی چې زور ور به کمزوری وهي او ضعیف به د قوي له لاسه په عذاب وي، مګر په کورونو کې د مینې اومحبت تقاضا بل ډول ده.

هلته که یو کوچنی ماشوم خپل مشر ورور په څپېړه وهي خو هغه ورته خاندي،یعنې له ټولونه کمزوری په ټولو زور ور دی.ما ته د دغې کورنۍ دود او دستور ډېر ښه ښکاري او له خدای ﷻ څخه غواړم چې دا رواج عام شي.

په دې پوهېږم چې په هر کاله کې همدغه حال دی او په هره کورنۍ کې کوچنیان په لویانو زورور او زړوردي.

د ګبر او ترسا په کاله کې هم دکوچنیانو زور چلېږي او جوړ د ناجوړه په مخکې منډې وهي. مګر چې له کورونونه دباندې وګورو، نوبیا قوي په ضعیف مسلط دی.

ددنیا طبیعي قانون همدغه دی، چې غټان او لویان به په وړو او بې وزلو سوك او څپېړه پورته کوي او د قوت خاوند به هېڅ تحمل او حوصله نلري. ددغه ظالمانه قانون دماتولو لپاره چې خدای پاك څه شی پیداکړ هغه مینه او عاطفه ده . د مینې اومحبت په نړۍ کې ضعیف او کوچنی د لوی او قوي تر څپېړو لاندې نه دي، بلکې کوچنیان په لویانو حکومت کوي او د وړو پادشاهي ده، موږ ښځې

عاجزې بولو، مګر مینې او محبت ډېر زور ور او پیاوړي ددوی دخوښۍ او رضا تابع ګرځولي دي.
څنګه چې په زړه زمانه کې دېوان دښاپېریو تابع وو، اوس هم دقوت او قدرت خاوندان ددغه ضعیف او لطیف جنس په مقابل کې ډېر ضعیف معلومېږي. که عشق او مینه په مخکې نه وي، نو د دېو او ښاپېرۍ زورهېڅکله برابر نه دی. او یو ماشوم هېڅ وخت دسپین ږیرو په ږېره لوبې نشي کولی اونه دمشرانو په اوږو سپرېدلی شي.
یوه ورځ یوه ماشوم یوغټ سړی له لمنې ټینګ نیولی و او کاله ته یې په زوره بیوه، هغه خپله لمن دده له لاسه خلاصه نکړای شوه که څه هم دده زور او دهغه زور برابر نه و خو دماشوم مینې او محبت دماشوم په پنجو کې دغه قوت او قدرت هماغه دپخوا زمانې دېو دی او مینه هماغه ښاپېرۍ ده، چې دېوان یې تر فرمان لاندې وو.
که دمینې او عاطفې ماشوم هر څنګه د لوی سړي ګرېوان ته لاس واچوي یایې لمن ټینګه ونیسي څوك ورڅخه ځان نه شي خلاصولی. ځکه چې دا قوت په ټولو قوتونو زور ور دی. زه مینه او عاطفه دزور او قوت په مقابل کې ځکه ماشومان بولم چې زور او قوت ډېر پخوا پیداشوی دی او انساني عاطفه، انساني رحم او شفقت وروسته پیدا شول یعنې هماغه شان چې فرعون له موسیٰ "ع" نه دمخه دنیا ته راغلی دی. حیواني غرایز هم له انساني

عواطفو نه ډېر پخواني دي او دعمر په لحاظ عواطفو ته کوچنيان ویلی شو.
مګر کوچنيانو ته پاك خدای ﷻ هغه قوت ورکړی دی چې فرعون ترېنه په خوب کې هم وېرېږي او بدبد خوبونهويني. که څوك په دنیاکې دسولې غوښتونکی وي او غواړي چې دناروا ، او ظلم مخه ونيسي نو يوه داسې اختراع پکارده چې دعشق او مينې له عنصرنه پکې کارواخيستل شي.
دا اختراع د دماغ کارنه دی، دزړه کار دی او دزړه پاملرنې ته ضرورت لري. په دې باب ساينس او تخنيك ته رجوع نه ده پکار دا افتخارکه هر وخت دنيا ته حاصلېږي، نو د شعر او ادب په لمنې کې به وي او دزړونو په مملکت کې به پيدا شي.
(له غوره نثرونو څخه)

---

سپارښتنه:
- ښوونکی دې متن ولولي او په مفهوم دې خبرې وکړي.
- ښوونکی دې د متن له مخې پر زده کوونکو باندې د املا کار وکړي.

| لغت | معنی |
|---|---|
| ضعيف | کمزوری |
| تحمل | صبر او حوصله |
| عاطفه | شفقت او مهرباني |
| پياوړي | قوي او غښتلي |
| لطيف | نرم |
| افتخار | وياړنه |

❖ زده کوونکي دې د پورتني متن لنډ مطلب په څو کرښو کې وليکي.
❖ ماشومان ولې پر مشرانو زورور دي؟

# د اوښکو ارزاني

که غله او خوراکي شیان ګران شي نو د فصل په راوتو سره پوره کېږي. که کالي او لباس قیمته شي څه نا څه ګوزاره کېږي. خلك وایي:"بربنډله لارې اوړي، وږی نه اوړي" که فېشني شیان قیمته شي نو قېمته دې شي. کنه." تجمل بېل شی دی او ژنده ګي بېل شی" که اسعار قېمته شي نو ددولت په تصمیم یې علاج ممکن دی، غیر ضروري لومړی، دویمه او درېیمه درجه شیان له استعماله وغورځوئ.

که داټول شیان په یوه سویه ارزانه شي نو د یوه مملکت لپاره، د هوساینې او آسایش وسایل لاس ته راځي، خو د ټولنې سعادت او خوشبختي دغه وخت هم نه حاصلېږي، دژوندسعادت او خوښي دمادیاتوپه زیاتوالي او ډېروالي دومره اړه نه لري لکه دضمیر په آزادۍ او د روح په خوشحالۍ پورې.

په ژوندکې خطرناك او مدهش حال دادی چې اوښکې ارزانه شي، وېره، دهشت او درد موجود وي او دوانه وي، په طب کې دهر درد خوږ، پرهار او ټپ علاج شته، مګرنه د زړه د درد او زخم. د زړه د درد علاج په خپله دزړه درد دی او بس. داو ښکو دارزانۍ علاج

د پیسو دارزانۍ غوندې نه دی چې داقتصاد کوم ماهر یې علاج وکولی شي او نه د زراعت پوهان په دې کار پوهېږي. بې دردي په یوقوم او ټولنه کې داسې یو مرض دی چې په علاج یې پیغمبران پوه شوي دي.

ای خدایه ﷻ! له موږ څخه هغه زړونه واخله چې دمظلوم او بېوزلي له سترګو څخه د اوښکو په تویدو نه خوږېږي او هغه لاس، پښې او ژبه مه راکوه چې بې لاسواو بې پښو خلکو ته صدمه رسوي او خلك ژړوي.

(له خیالي دنیاڅخه)

---

سپارښتنه:

- ښوونکی دې د پورتني متن پر مطلب باندې خبرې وکړي.
- ښوونکی دې د متن له مخې په زده کوونکو باندې د املا کار تر سره کړي.
- زده کوونکي دې په لاندې کلمو کې د جمع کلمې په نښه او بیا دې په جملو کې وکاروي.

(شیان، موسم، خوشحالۍ، پوهان، زړونه، قوم، پښې)

❖ زده کوونکي دې د پورتني متن مطلب په څو کرښو کې ولیکي.

# رحمن بابا

عبدالرحمان بابا په يوه غريبه کورنۍ کې پيداشوی دی. ددې نامتو شاعر د ژوند په اړه بشپړ معلومات تراوسه نه دی پيدا شوی. د ده له ځينو اشعارو او د يوشمېر پوهانو له معلوماتو څخه يوازې دومره څرګندېږي چې نوموړی په قوم مومند او د پېښور په بهادر کلي کې زېږېدلی دی. عبدالرحمن بابا په خپله زمانه کې يو صوفي او په حقيقي عشق کې داسې ډوب شاعر تېر شوی دی چې خپلې فقير مزاجۍ او حقيقي عشق په وجهه يې په ټولو پښتنو کې د بابا لقب ګټلی دی.

د پټې خزانې د روايت له مخې رحمان بابا په ۱۰۴۲ هـ. ق کال زېږيدلی اوتر ۱۱۲۸ هـ. ق کال پورې ژوندی و. دده له اشعارو سره خلک دومره مينه لري چې په خپلو خبرو کې يې د متلونو په توګه کاروي او د ده په ديوان کې فالونه هم ګوري. د اشعارو ديوان يې د ځلورو زرو په شا وخوا کې بيتونه لري او ډېر ځله چاپ شوی دی.

د رحمان بابا اشعار ډېر ساده، سليس او روان دي. داشعارو مضامين يې اخلاقي، ديني، او اجتماعي دي او د تصوف لويه برخه لري.

د پښتو ژبې په کتابونو کې دا دېوان دومره شهرت لري چې د بل شاعر دېوان داسې شهرت نه دی موندلی. رحمان بابا د پېښور د هزارخانې په هدیره کې ښخ شوی دی.

---

سپارښتنه:

- ښاغلی ښوونکی دې په خپله خوښه د رحمان بابا یو بل ترېیوي شعر زده کوونکو ته ووايي.

## پوښتنې:

۱- رحمان بابا څنګه شاعر و؟

۲- که د رحمان بابا په شان نور شاعران پېژنئ نومونه يې واخلئ!

۳- زده کوونکي دې په متن کې راغلي ادوات (وييکي) پيدا کړي لکه: په، له، او داسې نور...

۴- زده کوونکي دې د رحمان بابا په اړه څو کرښې مقاله په خپلو کتابچو کې ولیکي.

## د رحمان بابا دکلام نمونه

چې مدام دبل و عیب وته نظر کړي
خدای له خپله عیبه ولـي بې خـبر کـړي

که یوه جودانه عیب وینې په بل کـې
هـغه یو جودانه عیب به یې لوی غـرکـړي

که دې خپله ګناه لویــه لکه غـر وي
په حـیله حـیله به غر د مــــچ وزر کـړي

که څوك تله د انصاف په لاس کې درکړي
خـپل تـتـمـو او د بـل آس بـه برابر کـړي

تو لعنت دې په داهسې منصفۍ شــه
چـې لـه حقه وبـاطـل وتـه ګـذر کـړي

تـاتــه رب د مــــلایــکو مــقام درکـړ
ته دا خپــل صـورت په خپله ګاو و خر کړې

که دې یو وېښته د ځان د پاسه کوږ شي
ځان هغه ساعــت له خـــدایه"ج" مرورکړې

د ځوانۍ عــــمر دې تېرکړ په غفلت کې
پـه پیـرۍ کـې بـه څه زېرمــــه د مـحشر کړې

په پیری کې دځوانۍ چارې نــه ښایــي

تــه پــه ورځ د عاشورې بــه څــه اختر کړې

لکــه بېخ دزړي ونې چینــجی وخوري

په داتېـر عـمر بـه څـه ښاخ اوثــمـرکړې

دغه باغ به دې خلاص نشي له خزانه

که چاپېر ورځنې سد د ســکندر کړې

وبـد خـواه وتــه هېڅوك نصیحت نـه کـــــا

"رحمان" ستا په غم شریك دی کــــه بـــاور کړې

(رحمان بابا)

---

سپارښتنه:

- ښوونکی دې د پورتني شعر هر بیت معنا کړي او په مفهوم دې رڼا واچوي.
- ښوونکی دې دوه دوه زده کوونکي په وار د ټولګي مخې ته راوغواړي یو زده کوونکی دې د شعر یو بیت په لوړ آواز ولولي او بل زده کوونکی دې هغه پر تخته ولیکي او معنا دې کړي.

| لغت: | معنی: |
| --- | --- |
| منصفۍ | انصاف کول |
| مقام | لوړه درجه |
| محشر | د قیامت ورځ |
| پیری | زړښت |
| ثمر | حاصل، مېوه |

❖ زده کوونکي دې د لوستل شوي شعر مطلب او مفهوم په خو کرښو کې ولیکي.

# حکایت

وايي چې د روم دملك يو پاچا و، نوشيروان پاچا ته يې يو قاصد ولېږه. کله چې قاصد دربار ته ورسېد ګوري چې يوه لويه ماڼۍ ده او پاچا پکې پرتخت باندې ناست دی. قاصد چې تماشه وکړه په هغه ماڼۍ کې يو ځای ورته کوږ ښکاره شو نو يې له يوه پوه سړي څخه پوښتنه وکړه چې په دې ګلالۍ ماڼۍ کې داځای ولې کوږ دی!

هغه ورته وويل: چې داخو ديوې بوډۍ کور و، په هغه وخت کې چې بادشاه داماڼۍ جوړوله نو هغې بوډۍ ته يې وويل چې: داکور په ماخرڅ کړه مګر دهغې رضانه وه او په زورسره خو پاچا داکارنه کاوه نوپه دغه سبب داځای په دې ماڼۍ کې کوږ پاتې شوی دی.

قاصد وويل: رښتيا خبره داده چې داکوږ والی ترهغه سموالي ډېر ښه دی چې په ظلم سره شوی وي او داسې انصاف نه په روميانو زمانه کې چاکړی دی او نه مې ګومان کېږي چې وروسته به يې پاچاهان وکړي.

پاچا چې دا خبرې د قاصد له خولې څخه واورېدلې، ډېر خوشحاله شو. انعام يې ورکړ، په ډېر عزت يې رخصت کړ.

---

سپارښتنه:

- ښوونکی دې د پورتني حکايت په اصلي مطلب باندې خبرې وکړي.
- له ځو زده کوونکو څخه دې وغواړي چې د متن پر اصلي مطلب باندې خبرې وکړي.

| لغت: | معنی: |
|---|---|
| قاصد | استازی، خبر رسوونکی |
| ماڼۍ | کور، د بادشاه قصر |
| بوډۍ | زړه ښځه |

❖ زده کوونکي دې د لوستل شوي حکايت مطلب وليکي او حکايت دې له ياده زده کړي.

# پښتو متلونه

## د متلونو تعریف او مثالونه:

متلونه هغه پراخې مفهوم لرونکې، په وزن برابرې او لنډې ویناوې دي چې داستدلال د تایید لپاره دخبرو اترو په ترڅ کې ویل کېږي.
متلونه د ولسي ادب یوه په زړه پورې برخه تشکیلوي چې د هغو په وسیله د یوې ټولنې افکار، کلتور او دودونه له یوه نسل څخه بل نسل ته او له یوه ولس څخه بل ولس ته د هغه ولس د عامه ذهنیت په منل شوي چوکاټ کې لېږدول کېږي.

متلونه د فولکلور یوه غوره برخه تشکیلوي. د استدلال له تائید نه پرته د خبرو د ښکلا لپاره هم استعمالېږي او اغېزه یې په مقابل لوري دومره زیاته وي چې په ځینو مواردو کې د مطلب د ثبوت لپاره یوازې د یوه یا څو متلونو ویل کفایت کوي. په شفاهي ادب کې پښتو ژبه د متلونو له درکه یوه شتمنه ژبه ده چې شمېر یې زرګونو ته رسېږي.

پښتانه د متلونو له استعمال سره ډېره مینه لري او زیاتره وخت یې د اخلاقي نصیحتونو او ټولنیزو لارښوونو لپاره استعمالوي د استعمال نمونې یې په دې ډول دي:

۱- کوږ بار تر منزله نه رسېږي.

دا متل پښتانه په هغه ځای کې وایي چې که څوک وغواړي په ټګۍ، برګۍ او دروغو سره ځان یوې رتبې او ځای ته ورسوي. د دنیا پېښو او تجربو دا ښودلې ده چې که د یوه دیوال بنسټ سم او پوخ وي نو دلوېدو خطر یې کم وي او که نه په لږ وخت کې به ولوېږي.

دا متل په هغه ځای کې هم ویل کېږي چې د یوه کار اساس په دروغو بناوي او هغه کار د کېدو وړنه وي. لکه چې یو شاعر هم ویلي دي:

و منزل ته نــه رسېږي کـــه پوهېږي
هغه خلك چې تړلی يې وي بارکوږ

۲- څه چې کرې هغه به رېبې:

دنیا د پټي مثال لري او د انسان ټول اعمال او کارونه د تخم په څیر دي. انسان چې په دنیا کې هر څه کوي او هر عمل سرته رسوي ارومرو به د خپل عمل مېوه او حاصل لاس ته راوړي. که يې ښه کړي وي حاصل به يې ښه وي او که يې بد کړي وي نو حاصل به يې بد وي.

۳- مېړونه مري او نومونه يې پاتې کېږي:

دا متل په هغه ځای کې ویل کېږي چې یو سړی بل څوك سمې لارې ته هڅوي او لارښوونه ورته کوي، همدارنګه د نومیالیو په ستاینه او د هغوی د یادونې په کیسو کې ویل کېږي.

۴- چې غور ځي هغه پرځي.

دا متل سړي ته ورښيي چې انسان باید په هر کار کې اعتدال وساتي او په کارونو کې له خپل حد او اندازې نه تیری ونه کړي که نه نو داسې تاوانونه به ورپېښ شي چې بیا به يې چا ره نشي کولی.

۵- چې مړ شي هغه پړ شي.

په دې متل کې له بې وفا دوستانو او یارانو څخه ګیله کول دي. ځکه بې انصافه او حق نه پېژندونکي وګړي تر څو چې یو سړی ژوندی وي په ښو سره يې ستايي. خو کله چې مړ شي نو بیا يې په بدو یادوي او یا يې هېر کړي.

۶- خپله ژبه هم کلا ده هم بلا ده:

څرنګه چې ژبه په ټولنیز ژوند کې زیات تاثیر لري نو که ژبه په ښه توګه استعمال شي د ویونکي د ښه شهرت، نېك نامی او بریالیتوب سبب ګرځي او که په بدو وکاروله شي نو دویونکي د بد نامی، خواشینی او ناکامی سبب کېږي. خوشحال خان بابا دې مطلب ته داسې اشاره کوي:-

په واك چې نه لري په کام کې ژبه
چې ګونګ شي ښه دی په لویه تبه
په بده "ژبه" ځان ځي، جهان ځي
ایمان لا هم ځي واوره طالبه

۷- مېږه مړکړه. مېړانه یې مه ورکوه.

څرنګه چې افغانان مېړني، بشر دوست، ننګیالي، حق غوښتونکي او حق پالونکي دي نو ترخه خبره دوی ته هغه ده چې څوك یې له پورتنیو صفاتو څخه منکر شي.

۸- خپل عمل د لارې مل.

دا متل په داسې ځای کې ویل کېږي چې ویونکي ته مطلب نصیحت کول وي یعنې بل سړی ښه کولو ته رابولي. کله چې انسان له دې نړۍ څخه ځي او د بلې دنیا لار نیسي نو په دغه وخت کې له هغه پوښتنه کېږي. د دغې پوښتنې غوره ځواب او ښه وسیله سپېڅلی عمل دی که ښه یې کړي وي خلاصی به مومي، او که بد یې کړي وي نو سزا به ویني. همدارنګه په دنیا کې هم سړي ته د خپل عمل بدله رسېږي.

په پښتو ژبه کې متلونه خورا ډېر اهمیت لري، هر یو په خپل ځای کې استعمالېږي او له هر متل څخه جلا جلا مطلب اخیستل

کېږي. څرنګه چې د پښتو ژبې د ټولو متلو نو تشريح کول دلته امکان نه لري نو يو شمېر يې په لاندې ډول وړاندې کېږي:

ـ د ګور شپه نه په کور کېږي.

ـ مار خوړلی له پړي هم بېرېږي.

ـ چې په تمه د سپروشي. هغه پاتې په مېرو شي.

ـ بنده تر خپل وس پړ دی.

ـ اوبه په ډانګ نه بېلېږي.

ـ اوبو اخيستی څګ ته هم لاس اچوي.

ـ چې اوسې په خوی به د هغو سې.

ـ د کبر کاسه نسکوره ده.

ـ مه کوه پر چا چې وبه شي پر تا.

ـ خپل عيب دولو منځ او د بل عيب دکلو منځ.

ـ له يوه لاسه ټک نه خېژي.

ـ په يوه څپېړه سل مخه خوږېږي.

---

**تمرين:**

- ښوونکی دې د پورته متلونو د استعمال ځايونه زده کوونکو ته توضيح کړي.
- زده کوونکي دې پورتني متلونه په يادوزده کړي.
- زده کوونکي دې پورته متلونه په کتابچو کې وليکي او په خپله خوښه دې د يو يو متل معنا او مفهوم هم وليکي.

# اخلاص

ګوره څه بلند مقام دی د اخلاص
چې جهـــان واړه غـــلام دی د اخـلاص
که له ځمکې و آسمان ته خاته ګران دي
دا سـفر په یوه ګام دی د اخلاص
چې خـبرکـا مخلــصان له علم غیبه
دا همه واړه الهام دی د اخــلاص
درواج او رسم عمر مدام نـه وي
لکه عمر چې مدام دی د اخلاص
بې اخلاصه حلاوت د اســلام نـشـتـه
که اسلام دی خو اســـلام دی د اخـلاص
څه عجب دی که مستان وي ترې چاپيره
هر ساقي څخه چې جـام دی د اخــلاص
څه عـجب دی که هـما یــې په دام نښـلي
هرصیاد څخه چې دام دی د اخــــلاص
پس له مرګه بـه دا مهـر و اخــلاص نــه وي
که اخلاص کړې نـن هنــګام دی د اخــلاص
د رحمان کلام په داسبب شـیریــن دی
چې یې هر کلام، کلام دی د اخـلاص

(رحمان بابا)

**تمرین:**

- هر زده کوونکی دې له پورتني شعرڅخه یو یو بیت په نثر واړوي او په خپلو کتابچو کې دې ولیکي.
- زده کوونکي دې د اخلاص په اړه یوه مقاله ولیکي.
- زده کوونکي دې لاندې لغتونه په مناسبو جملو کې استعمال کړي:

**- اخلاص - ګام -علم - صیاد - حلاوت - هنګام.**

---

| **لغت:** | **معنی:** |
|---|---|
| الهام | د الله ﷻ له لوري د مؤمن په زړه کې د نیکۍ خبرې غورځول دي. |
| حلاوت | خوږوالی |
| صیاد | ښکاري |

# حضرت سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه

حضرت سعد رضي الله عنه د ستر پيغمبر محمد ﷺ د لومړنيو او لوړ رتبه اصحابو له جملې څخه دی. کله چې د حضرت سعد رضي الله عنه مور (حمنه) د هغه له مسلمانېدو څخه خبره شوه. دومره غمجنه شوه چې خوراك، څښاك او خبرې يې بندې کړې او ويې ويل "تر څو چې سعد له اسلام څخه لاس وانخلي نو زه به همداسې يم تر هغې چې مړه شم". هغه تر درې ورځو پورې په کور کې پرته وه او همدا يوه خبره يې کوله. مګر حضرت سعد رضي الله عنه له مور سره د زياتې مينې سره سره په خپلې اسلامي عقيدې ټينګ ولاړ و، او خپلې مورته يې داسې ويل: مورې! ته پرما ډېره ګرانه يې خو په خدای جل جلاله سوګند او لوړه کوم چې که ستا زر ساګانې وي او هره شيبه دې يوه يوه سا وځي نو بيا به هم زه اسلام پرې نه ږدم.

يوه ورځ حضرت سعد رضي الله عنه له مکې نه بهرله خپلو څو تنو ملګرو سره په يوه پټ ځای کې لمونځ کاوه، ناڅاپه هلته يو څو تنه مشرکين را پيدا شول، لومړی يې ورته سپکې سپورې خبرې وکړې او بيا يې پرې حمله وکړه په دغه وخت کې چې د حضرت سعد رضي الله عنه د ځوانۍ پسرلی و سخته غوسه ورغله، يوې خواته د اوښ د پښې هډوکی پروت و هغه يې را اوچت کړ او پر مشرکانو يې حمله وکړه د جګړې په ترڅ کې يې د يوه مشرك سر مات کړ او وينې يې پرې وبهولې. وروسته بيا هغه نور ترې وتښتېدل. علامه ابن اثير (رح) وايي چې حضرت سعد رضي الله عنه لومړنی مسلمان دی چې له حق نه ددفاع په لاره کې يې د يوه مشرک وينه وبهوله، تر هجرت د مخه يې درې کاله د

رسـول الله ﷺ پـه ملګرتيـا د مكـې د مـشركينو پـه اقتـصادي او اجتماعي بنديز كې بې ساري كړاوونه وګالل.

حـضرت سـعد رضي الله عنه د بـدر، اُحـد، احـزاب، خيبـر، حنـين، د مـكې د فتحې او تبوك په غزاګانو كې له حضرت پيغمبر ﷺ سره د ملګرتيا وياړ لاس تـه راوړی و.د اُحد پـه جګـړه كـې د حـضرت سـعد رضي الله عنه ورور عتبه د مشركينو په كتار كې ولاړ و او د جګړې پـه ترخ كـې د عتبـه د ډبرې په ګوزار سره د رسول الله ﷺ مبارك غاښ شهيد شو.

حضرت سعد رضي الله عنه چې له دې پېښې نه خبر شو نو ټول عمر به يې ويـل: (په خداى ﷻ سوګند چې زه له عتبه نـه پرتـه د هيڅا وينې تـه دومـره تږی شوی نه يم.)

حـضرت سـعد رضي الله عنه دابـو بكـر رضي الله عنه د خلافـت او همدارنګـه د حـضرت عمـر رضي الله عنه او حـضرت عثمـان رضي الله عنه د خلافـت پـه دورو كـې مهمـې دنـدې اجرا كړې دي. بالاخره په كال **۵۵** هـ كې د (۸۲) كالو پـه عمـر وفـات او د مدينې منورې په جنة البقيع هديره كې خاوروته وسپارل شو.

إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ

---

| لغت: | معنی: |
|---|---|
| بې کچه | بې اندازې، له حد څخه زيات |
| رېږي | رېبړي |
| ستونزې | مشکلات |

- ښوونکی دې د لوستل شوي متن پر مطلب نورې څرګندونې هم وکړي.
- زده کوونکي دې د متن په مطلب خبرې وکړي.

# همدردي

ژاړي په غمونو کې خواخوږي له هر چا سره
سل پتنګان سوځي د یوې شمعې ژړا سره

ډك زړګی له اوښکو ګرځي وریځې په آسمان کې بیا
څه ژړا ملګرې ده د ژوند یوې بریښنا سره

ټول باغ ژړېدلی ځکه اوښکې دي د ګل په مخ
ډېر لکه لاله داغلي زړونه شته صحرا سره

نه ښایي انسان ته چې د بل په غم غمجن نه شي
لویه بدبختي ده که څوك نه ژاړي له چا سره

داسې بېغمي دې خدای ﷻ په هېڅ کور کې پیدا نه کړي
یوکورکې چې ویر وي او بل خاندي له لېلا سره

(اروا ښاد ګل پاچا الفت)

---

سپارښتنه:

- ښوونکی دې شعر معنا کړي.
- زده کوونکي دې په پورته شعر کې همقافیه کلمې پیدا کړي.

| لغت: | معنی: |
|---|---|
| همدردي | خواخوږي |
| ویر | غم او خپګان |

- زده کوونکي دې د پورتني شعر مطلب په خو کرښو کې په نثر ولیکي.

# مذکر او مؤنث

ټول نومونه په پښتو کې د جنسيت له مخې په دوه ډوله دي. نرينه او ښځينه.

دغه دواړه ډوله ځيني نښې لري چې په لاندې ډول ښودل کېږي:

١. د نرينه نوم نښې: کوم نومونه او صفتونه چې په پای کې يې دغه وروسته علامې راشي مذکر (نرينه) نوم ګڼل کېږي.

الف: - نرمه (ی) لکه: لرګی، منګی، سړی. وړی، تړی....

ب:- څرګند واو، لکه: تالو، چاکو، باڼو....

ج:- کوچنۍ (ه) لکه: تره، وراره، زړه، نيکه....

د :- نرم واو لکه: پلو، لو، کنډو....

هغه ټول نومونه چې په پای کې يې اصلي توري راغلي وي او سماعي مؤنث نه وي مذکر ګڼل کېږي. لکه مېز، لاس، اور، غل، مل....

يادونه: هغه ساکنه (ی) چې د مخه يې ساکن "و" او يا الف وي د اصلي توري حکم لري لکه: زوی، سوی، لوی، ځای، چای....

٢- د مؤنث نښې: هغه نوم چې په پای کې يې يوه له دغو وروستنيو نښو څخه راغلې وي مونث (ښځينه) نوم ګڼل کېږي.

١- څرګنده (ه) لکه: اسپه، لښته، پڼه،توره....

٢- زورکۍ واله (ۍ) لکه خولۍ، ډوډۍ، څپلۍ، څوکۍ....

٣- (الف) لکه ژړا، خندا، نڅا، ملا، شا، ښوروا....

۴- اوږد(و)، لکه: ښارو، زانګو، لامبو....

۵- څرګنده (ي) لکه: بياتي، دوستي او ښادي، مګر په نسبتي صفتونو کې څرګنده (ي) د مذکر لپاره راځي، لکه: دوبي، موچي او داسې نور.

۶- اوږده (ي) لکه: ادې، ناوې، ملګرې. ترې....

**د مؤنث نوم ډولونه:**

مؤنث نوم په پښتو کې پر څلورو ډولو وېشل کېږي.

۱. **حقيقي لفظي مؤنث:** (ساکښ نښه وال) چې د ساکښ او ذيروح نوم او د تانيث نښه هم پکې وي لکه: غوا، چرګه، اسپه....

۲. **حقيقي غير لفظي مؤنث:** (ساکښ بې نښې) چې د يوه ساکښ نوم وي او د تانيث نښه نلري لکه: مور، خور، ترور.... دې ډول مؤنث ته معنوي مؤنث هم وايي.

۳. **غير حقيقي لفظي مؤنث:** (بې ساه نښه وال) هغه مؤنث ته وايي چې د بې ساه شيانو نوم وي او د تانيث علامه هم په کې وي لکه: لښته، پاڼه، غرمه، څوکۍ، رڼا، زانګو....

۴. **غير حقيقي غير لفظي مؤنث:** (بې ساه بې نښې) هغه ته وايي چې د بې ساه شيانو نوم وي او دتانيث نښه (ه) ترې لوېدلې وي، لکه: لمن، ستن، بړستن او مېچن. دې ډول موئنث ته سماعيمؤنث هم وايي.

---

## سپارښتنه:

- ښوونکی دې د مذکر او مؤنث نومونوپه هکله معلومات له مثالونو سره وړاندې کړي.
- ښوونکی دې پر زده کوونکو باندې د مذکر او مؤنث نومونومثالونه په جملو کې وکار وي.
- زده کوونکي دې د پښتو دغه لاندې پنځه ( ی ) ګانې په نومونو او کلمو کې مشق او تمرين کړي. ( نرمه ی ) زورکۍ واله (ۍ ) څرګنده ( ي ) اوږده ( ې ) فعليه يا امريه ( ئ )
- زده کوونکي دې د مؤنث او مذکر ګرامري جوړښت له يادو زده کړي.

# چې ګټل خورول بخښل کا ځوان هغه

چې ګټل، خورول، بخښل کا ځوان هغه
چې توره لري د توري خان هغه
کان د لعلو د یاقوتو ګوهر څه دي
چې احسان ترې پیدا کېږي کان هغه
چې یې ته په ګېډه وخوري حبطه شي
چې مجلس سره خواره شي خوان هغه
که د مال دی که د ملك دی که د لېچو
چې توان د چا په کار شي توان هغه
چې دې څوك د وړاندې وروسته ځي دا څه شو
په تنها وجود چې شان دی شان هغه
ونور چاوته وران مه وایه "خوشحاله"
چې په قول و عهد وران شو وران هغه

(خوشحال خان خټک)

---

سپارښتنه:

- ښوونکی دې پورتنی شعر معنا کړي او په مطلب دې لنډې خبرې وکړي.
- ښوونکی دې د پورته بیتونو دهرې مسرې سېلابونه وشمېري او بیا دې په زده کوونکو تکرار کړي.

تمرین:

- ○ زده کوونکي دې یو د بل په مرسته د املا کار وکړي.
- ○ داشعر ولولئ او د هغه مفهوم په ساده الفاظو په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

# د وخت ارزښت

هغه ځوك چې خپل ارزښتناك وخت د علم په تحصيل كې تېر كړي، نو عالم او فاضل به شي دغسې كسان به له يوې خوا د ژوندانه له ستونزو سره په آسانۍ مقابله وكړي او له بلې خوا به د خپلې اسلامي ټولنې لپاره د خدمت وړ وګرځي.

هغه خلك چې د وخت په ارزښت نه پوهېږي، وخت غنيمت نه ګڼي له خپل وخت څخه له تعليم په زده كړه كې كار نه اخلي، دغسې وګړي د علم له ګټې څخه بې برخې پاتې كېږي او نه شي كولى چې خپلې ورځنۍ چارې په ښه توګه سرته ورسوي.

همدارنګه كه مور او تاسې خپل تېر شوي عمر ته ځير شو نو دې نتيجې ته به ورسېږو چې زموږ ټول عمر ډېر لنډ دى. رحمان بابا دغه مطلب په ډېرو خوږو او عام فهمه الفاظو سره ډېر ښه بيان كړى دى لكه چې وايي:

زند ګي كه څوك پوهېږي حضور دم دى

آيــــنده او رفته كله د چا ياد شي

ددې لپاره چې اخروي او دنيوي ګټې تر لاسه کړو او د ښه ژوند خاوندان شو نو پکا رده چې وخت ته په درنه سترګه وګورو. خوشې او بيځايه يې تېر نه کړو، تل هڅه وکړو چې خپل وخت د الله ﷻ په عبادت او د علم په زده کړه کې تېر کړو. بيا هم د پښتو ژبې نوميالی شاعر رحمان بابا دې مطلب ته داسې اشاره کوي :

يو نفس مه شه غافل له نفس کښو

مبادا چې دې دغه اخر نفس وي

---

سپارښتنه:

- ښاغلی ښوونکی دې د وخت د ارزښت په اړه زده کوونکو ته معلومات وړاندې کړي.
- ښاغلی ښوونکی دې له څو زده کوونکو څخه وغواړي چې د وخت په ارزښت باندې خبرې وکړي.
- هر زده کوونکی دې په پورته متن کې پنځه پنځه نرينه او ښځينه نومونه پيدا کړي

- زده کوونکي دې دا چې وخت څه ارزښت لري څوکرښې مقاله په خپلو کتابچو کې وليکي.
- زده کوونکي دې په متن کې بيتونه په خپلو کتابچو کې وليکي او بيا دې معنا کړي.

# مفرد او جمع

نوم د شمېر له مخې پردوه ډوله دی. مفرد او جمع.

مفرد: هغه دی چې پر یوه شي یا یوه کس باندې دلالت کوي. لکه: هلك، ونه، لرګی.

جمع: هغه ده چې له یوه نه پرزیاتو شیانو او یا کسانو دلالت کوي لکه: هلکان، ونې، لرګي.

په پښتو کې ټولې جمعې له مفرد څخه د ځینو نښو په راوړلو سره جوړېږي. د نرینه د جمع جوړولو نښې دادي. ( ي،ه،ګان، یان،ان، ونه- اه)

ښځینه جمع ددې علامو(ې، ګانې،یانې، وې) په راوړلو جوړېږي.

## د نرینه جمع د جوړولو قاعدې په لاندې ډول دي:

۱- د هر مفرد نوم او صفت چې په پای کې یې نرمه (ی) راغلې وي په جمع کې دغه (ی) په څرګنده (ي) بدلېږي. لکه په لاندې مثالونو کې:

| مفرد: | جمع: |
|---|---|
| ستوری | ستوري |
| نوی | نوي |

| | |
|---|---|
| لوښی | لوښي |
| پلی | پلي |
| اغزی | اغزي |
| لرګی | لرګي |

یادونــه:- پــه دې ډول نومونــو کــې ســاکښ نومونــه یــا صــفتونه او نسبتي ساکښ صفتونه د مفرد په پای کې د (ان) په راوړلو هم جمع کېږي لکه:

مفرد: میرړی، غویی، خوریی، کابلی، کندهاری،سدوزی.

جمع: میرړیان، غویان، خوریان، کندهاریان، کابلیان ، سدوزیان.

۲- ساکښ صفات چې په آخر کې یې څرګنده (ي) یا څرګند واو راغلی وي د "ان" په راوړلو جمع کېږي لکه:

مفرد: موچي، دوبي. جمع: موچیان، دوبیان.

۳- هر صفت چې په منځ کې یې "واو" یا (ی) راغلې وي او دغه "واو" یا (ی) په مؤنث کې غورځېدلې وي نو په جمع کې هغه په الف بدلېږي او په پای کې یې کوچنۍ (ه) زیاتېږي، لکه:

مفرد: پښتون، ړوند ، روڼ، تریخ، تریو.

جمع: پښتانه، ړانده، رانهه، ترخه، تروه.

**۴-** ځیني دوه توریز یوڅپه ییز نومونه او صفتونه د کوچنۍ(۵) په زیاتولو جمع کېږي، لکه:

مفرد: غل، مل، مړ، سور، شین، اوم، اوږد.

جمع: غله، مله، مړه، سره، شنه، اومه، اوږده.

**۵-** هغه نومونه او صفتونه چې په آخر کې یې اصلي حرف راغلی وي که ساکښ وي عموماً د "ان" په زیاتولو او که بې ساه وي د "ونه" په زیاتولو جمع کېږي لکه:

مفرد: چرګ، اوښ، ځوان، مین.

جمع: چرګان، اوښان، ځوانان، مینان.

مفرد: کور، کال، پور، ټوپك.

جمع: کورونه، کالونه یا کلونه، پورونه، ټوپکونه.

ښځینه جمع:

د ښځینه جمعې د جوړولو قاعدې او نښې په لاندې ډول دي.

۱- هر مفرد موئنث نوم چې په آخر کې یې "و" او یا "ا" وي د "ګانې" په زیاتولو جمع کېږي لکه:

| مفرد: | جمع: |
|---|---|
| زانګو | زانګو ګانې |
| پیشو | پیشو ګانې |
| ورشو | ورشوګانې |
| ژړا | ژړاګانې |
| رڼا | رڼا ګانې |
| غوا | غواګانې |

ځینې پښتانه د الف نومونه د "وې" په راوړلو جمع کوي لکه:

ژړاوې، رڼاوې، غواوې او اناوې.

۳- هر مفرد مؤنث نوم چې په پای کې یې څرګنده "ي" یا زورکۍ واله "ۍ" راغلې وي که ساکښ وي په "ګانې" جمع کېږي او که بې ساوي نو جمع یې په زورکۍ واله "ۍ" راځي لکه:

| بې سا | | ساکښ | |
|---|---|---|---|
| جمع: | مفرد: | جمع: | مفرد: |
| دوستۍ | دوستي | مامۍ ګانې | مامۍ |
| ودانۍ | وداني | انۍ ګانې | انۍ |
| دښمنۍ | دښمني | | |

۴- کوم نومونه چې په پای کې یې اوږده "ې" راغلې وي په "انې" جمع کېږي لکه:

| جمع: | مفرد: |
|---|---|
| ناویانې، یا ناوې ګانې | ناوې |
| خواښیانې،یا خواښې ګانې | خواښې |

ټول سماعي مؤنثات په اصل کې "ه" لري نو ځکه یې جمع په آخر کې د اوږدې "ې" په راوړلو راځي لکه:

| جمع: | مفرد: |
|---|---|
| غېږې | غېږ |
| لارې | لار |
| لمنې | لمن |

۵- د نسبتي صفاتو او شريکو صفاتو ښځينه جمع له نرينه جمع څخه د اوږدې "ې" په زياتولو جوړېږي لکه:

| | |
|---|---|
| مذکر جمع | مؤنث جمع |
| کابليان | کابليانې |
| کوډلان | کوډلانې |
| ساده ګان | ساده ګانې |
| خواران | خوارانې |

۶- د معنوي مؤنثو جمع تريوې قاعدې لاندې نه راځي او په وروسته ډول جوړېږي لکه:

| | |
|---|---|
| مفرد: | جمع: |
| مور | ميندې |
| خور | خويندې |
| ترور | تريندې |
| نجلۍ | نجونې |
| وريندار | وريندارې، يا وربندارګانې |

# وطن وايي

زما د آبادۍ لپـاره پورته شئ اوچت شـئ
مــلا وتــړئ زلــمو
لاسونه سره ورکړئ ټول په مینه یو قوت شئ
مــلا وتــړئ زلــمو

* * * *

زما په هره تیږه کې د سرو زرو قیمت شـته
په قـدرېې کــه پـوه شئ
زما په دوړه خاوره کې اکسیر غوندې حکمت شته
په قـدر یې کــه پوه شئ
د پوهې رڼا واخلئ چې ښه پوه په حقیقت شئ
مــلا وتــړئ زلــمو

* * * *

زما د غرونو ګېډې دلعلونو خزانې دي
چې دي ستاسو لــپاره
د جګو غرونو څوکې مې د عزم نښانې دي
چې دي ستاسو لـپاره
هر ناو، هره دره مې د ننګو نو افسـانې دي
چې دي ستاسو لـپاره
نورمه کښېنئ را پاڅئ متهورو یو غیرت شئ
مــلا وتــړئ زلــمو

* * * *

زما په هر یو بوټي کې دارو شـته د رنځونو
صحت به ستاسـو ښه کړي

زما اغزي ښه وګڼۍ د نورو له ګلونو
صحت بــه ستاسو ښه کړي
زما خوږې مېوې مو که روزي شي د ښونو
صحت بــه ستاسو ښه کړي
نصیب پسې به څو ګرځۍ په خپله خپل قسمت شۍ
مـــــلا وتـــــړۍ زلــــمو

* * * *

زما روښانه لمر، خوږې اوبــه ښکلې هــوا ده
که پوه شوۍ ښکلی ژوند دی
فضا د ازادۍ مې څه عجیبه شان دنیا ده
که پوه شوۍ ښکلی ژونـد دی
سودا را سره نشته او کــه وي دغه سودا ده
که پوه شوۍ ښکلی ژونـد دی
روان په سمه لاره دوروري او د وحدت شۍ
مـــــلا وتـــــړۍ زلــــمو

* * * *

---

سپارښتنه:

- ښاغلی ښوونکی دې پورتنی شعر معنا کړي.
- ښوونکی دې د وطن شعر د ترانې په ډول په څو زده کوونکو باندې په لوړ آواز ولولي.
- زده کوونکي دې د پورتني شعر مطلب په څو کرښو کې ولیکي.
- زده کـوونکي دې پـه شعر کې هموزنـه کلمې پیدا او بیـا دې په جملو کې وکاروي.

# د حضرت حسن بصري (رح) له ويناوو څخه

۱. هره وينا چې له حکمت څخه خالي وي په خپله آفت وي.
۲. هره هغه چوپتيا چې د يوه کار د تدبير لپاره نه وي بې پروايي او تنبلي ده.
۳. د دريو کسانو غندنه په غيبت کې نه شمېرل کېږي:
الف: د نفس او هوا تابع ب: څرګند فاسق ج: ظالم امير.
۴. زما په وړاندې ځيرك او هوښيار هغه څوك دی چې آخرت له دنيا څخه ښه او غوره وګڼي.
۵. که غواړئ چې خپله دنيا له مرګ څخه وروسته ووينئ وګورئ چې د نورو له مرګ څخه وروسته د هغوی دنيا څه شوه؟
۶. هغه څوك احمق دی چې کله قوم ورپسې روان شي کبر او لويي پيدا کړي.
۷. څوك چې د خلکو خبرې تاته راوړي، په دې وپوهېږه چې ستا خبرې هم نورو ته وړي.

---

سپارښتنه:

- ښاغلی ښوونکی دې زده کوونکو ته د حسن بصري رحمة الله عليه د پېژندنې په هکله معلومات ورکړي.
- زده کوونکي دې پورته نصايح په يادو زده کړي او په خپلو کتابچو کې دې وليکي.
- زده کوونکي دې په لوستل شوو ويناوو کې ضميرونه پيدا او په خپلو کتابچو کې وليکي.

# تاته راشمه زړګی زما فارغ شي

ستا د عشق له وینو ډك شول ځیګرونه
ستا په لاره کې بایلي زلمي سرونه
تاتــه راشمه زړګی زمــا فـــارغ شي
بې لـه تا مې اندېښنې د زړه مـارونه
د ډیلي تـــخـت هیـرومــه چـې رایـاد کړم
زمـــا د ښکلې پـښـتونخوا د غـرو سـرونـه
د رقـیـــب د ژونـد مـتاع بـه تـار په تار کا
چـې پـه تـورو پـښتانه کا ګوزارونه
که تمامه دنیا یو خوا ته بله خوایې
زما خوښ دي ستا خالي تـش ډګـرونه
احمد شاه به دغه ستا قدر هېر نه کا
که ونیسي د تـمام جـهان مـلکونه

(احمد شاه بابا)

---

سپارښتنه:

- ښاغلی ښوونکی دې د پورتني شعر په معنا او مطلب خبرې وکړي.
- زده کوونکي دې پورتنی شعر په نثر واړوي او په خپلو کتابچو کې دې ولیکي.

**پوښتنه:**

۱. پورته شعر د څه شي په هکله ویل شوی دی، مطلب یې په څو کرښو کې ولیکئ ؟

# د زوی روزنه

نـازولـی زویه نـه اخلـي ادب
او د سـیـوري نخل نـــه نیسي رطب

ونیو مه شه هغه زویه په خوا پـورې
چې یې نه نیولی درس وي نه مکـتب

چې پیدا شي یو ناکس په قبیله کې
وړاندې وروسته حبطه کاندي نســب

د پسر په نیکو بـد و پـلار یـاد یـږي
دا خبردی پـــه جهــان کې مجرب

په سواره باندې یې ګوته شي ایښوده
چې یې آس بـرابـر نه ځي په جلـب

په زړه مهر په خوله قـهر زوی ته بـویه
څه ښـه وایي "چېرته ډب هلـــته ادب"

هر ناکس لکه مګس باندې بڼېږي
چې "حمید" نرم ګویي کـا شـکر لب

(حمید بابا)

---

سپارښتنه:

- ښاغلی ښوونکی دې د پورته شعر په معنا او مطلب خبرې وکړي.
- زده کوونکي دې د لوستل شوی شعر مطلب په خپله ژبه ووایي:
- زده کوونکي دې د لاندې شعر په هکله یوه لنډه مقاله ولیکي.

د پسر په نیکو بدو پلار یاد یږي
دا خبر دی په جهان کــې مجرب

❖ لاندې لغتونه معنا او په جملو کې وکاروئ.
ادب، نسب، مهر، بویه.

# یو ځنګلي سړی

داسې وايي چې پخوا چېرته يو ولس ودان و. دا ولس په خپله زمانه کې ډېر نامتو و. په دې ولس کې ډول ډول کسبه کار اوسېدل. چا به بزګري کوله، چا به جولايي کوله. ځينو ندافي او ځينې هم په نورو نورو کارونو بوخت وو. په دې ولس کې يو سړی داسې هم و چې دده ګذاره په ښکار وه. ددې ولس په شاوخوا کې يو لوی ځنګل موجود و، په دې ځنګله کې هر ډول مرغان او د ښکار حيوانات پيدا کېدل. دا ښکاري به اکثره دې ځنګله ته تلو او هلته به يې ښکار کاوه، او په دغه ښکار به يې د کاله ګوزران چلولو.

شپې او ورځې همدغسې تېرېدلې. يوه ورځ د ښکار په وخت کې ده ته يو ځنګلي سړی په مخه ورغی. ده هڅه وکړه او هغه يې ونيو. کلي ته يې راووست. دا خبره په ولس کې خپره شوه چې فلانې ځنګلي بنيادم راوستی دی. چې سبا شو نو جوپې جوپې خلك به راتلل او د ځنګلي سيل به يې کاوه په دې شان سره ډېرې ورځې تيرې شوې. ښکاري د ځنګلي سړي په ساتنه او پالنه تنګ شو. آخر يې له ځان سره وويل چې دا ځنګلي نه خبرې کوي او نه کار. زياتي مې لاتاواني کوي. څه يې کوم، پرې به يې ږدم چې درومي، نو يې پرېښود. ځنګلي بېرته خپله مخه ونيوه او ځنګل ته ننوت. نور ځنګليان چې دده په ورکېدو خپه وو دده په راتګ خوشحال شول. ټول ورته راغونډ شول، ورته يې وويل: ښه شو چې بيا مو وليدې او په خير راغلې. بيا يې پوښتنه ځنې وکړه چې وايه په دې دومره

موده کې چې له مدني بنیاد مانو سره اوسېږي څه دي ولیدل؟ ده ورته په بیان لاس پورې کړ چې په دوی کې مې سخت کم عقلتوب او لیونتوب ولید. اورېدو نکو په خورا مینه او شوق ورته وویل چې ښه څنګه؟

ده وویل: په دوی کې خو لیونتوب دادی چې په کورنۍ کې په یوه باندې د بابا، دادا، لالا، تره یا د مشر نوم کېښېږدي، نو بس څه غم او کړاو چې دی ټول د هغه پر سروي. نر او ښځې داوښ په شا سپاره له هر څه څخه بې خبره دي، شپې او ورځې په خبرو اترو او خوشې تېروي او هغه نور یې تر درنو بارونو لاندې خولې خولې وي او دوی د بیکارۍ له لاسه تمام عمر هوسونه کوي، یو یې ګټي او سل یې خوري.

---

سپارښتنه:

- ښاغلی ښوونکی دې د پورته کیسې په مطلب خبرې وکړي.

| لغت: | معنی: |
|---|---|
| نامتو | مشهور |
| جوپې جوپې | ډلې ډلې |
| پالنه | روزنه |
| کړاو | ستونزې |

- زده کوونکي دې په متن کې د جمع نومونه پیدا او په خپلو کتابچو کې ولیکي.
- زده کوونکي دې دلوستل شوې کیسې لنډ مطلب په څو کرښو کې ولیکي.

# حقايق

چـا چـې خــپل قــدر پــه خپله وكړ ګــلــه!

ستــاره د هـغـه قـوم پـه عـروج شـوله

خدای هـم نـه بــدلوي حــال د هـغـه قـوم

څوك چې نه بدلوي خپل حالت په خپله

تا ته ښايي په خپل لاس موقع پيدا كړې

انتظار د موقع چېرې دانا نه كــړي

ته ناز كړې چې بــدل كړی زمانـــې يـم

مــرد هـغـه دی چې بدله زمانه كـــړي

مستقبل او حال حاصل ستا د تدبيردی

تــه جـهـد وكړه ستا په لاس كې ستا تعبير دی

تا په خپله په ځان هســې چارې وكـړې

بــر نــاحق دې بــد نــام كـړی خــپل تقــدير دی

چې په كور كې د ښيښو اوسې په خپله

ولـې كـــور د ګـاونـډي پــه ګـټـو څـــلـه

فـــرمايــلی مو مـــشرانو دا مــتل دی

چې(په مــالګه مـه شلوه د ګـــونګړو تله)

د حاســـد خــونـه لـه غـمه خالي نه شوه

د طامع چېرې نصيب خوشحالي نه شوه

چې په کم نظر د خدای مخلوق ته ګوري

مـرتبه د هـغـو خلـکو عـالي نــه شوه

ګوره ونه پر هغو هم سیوری کـانـدې

چې لـه بېخه يې وهـي په تبر بـانـــدې

ته سرې يې له دښمن سره بـــد مــه کړه

پـه احسان سره يـې کـړه تر قـابو لاندې

چې سړی وي هغه هيڅ وخت وزګار نه وي

د هغـه ژوندون پر چا بانــدې بـارنـه وي

هر يو کار که ته همت وکــړې اسان دی

کـار لـه دې کـاره ګران نشته چې کار نه وي

(فضل احمد خان غر)

---

سپارښتنه:

- ښاغلی ښوونکی دې د پورتني شعر لغتونه له معنا سره پر تخته ولیکي .
- ښاغلی ښوونکی دې دهر بیت معنا او مفهوم زده کوونکو ته وړاندې کړي.
- زده کوونکي دې د شعر مطلب په څو لنډو جملو کې ولیکي.

## د بد نیتی نتیجه

ځو ورونږو ته له پلار څخه يو مېوه لرونکی باغ پاتې شو چې په هغه کې نوره کرنه هم کېده، ټوله کورنۍ د بڼ په حاصلاتو هوساوه.

پلار به يې چې د بڼ میوې ټولولې او يا به کښت ريبل کېده، بيوزلي او اړ خلك به يې خبرول، له مېوو او کښتونو څخه به يې هر چا ته برخه ورکوله. د همدې خيرات او صدقې له امله د باغ په حاصلاتو کې لويه ګټه او برکت و.

چې پلار يې مړ شو، زامنو يې دا پرېکړه وکړه:

دومره مېوې او کښت چې فقيران له موږ څخه وړي که دا ټول پخپله کورته يوسو، نو ډېره ګټه به وکړو. سهار وختي بايد باغ ته لاړ شو چې بېوزلي هيڅ خبر نه شي. ان شآء الله تعالی يې هم ونه ويل. هغه و چې د شپې له مخې داسې آفت پرې نازل شو چې ټول باغ او کښت يې له کاره ووت او تك تور وګرځېد.

ورونه سهار وختي د حاصلاتو د ټولولو لپاره وخوځېدل. کله چې د بڼ حد ته ورسېدل، بڼ ډاګ شوی و، هېڅ يې ونه پېژاند، ګومان يې وکړ چې لاره يې ورکه کړېده او بل لورته تللي دي، ښه

چې ورته ځیر شول وپوهېدل چې ځای خو همغه دی، مګردوی ترې بې برخې شوي دي.

د دوی په منځ کې منځنی ورور ډېر پوه او هوښیار و، د مشورې په وخت کې یې هغوی ته ویلي وو:

"ورونو! الله تعالیٰ ﷻ مه هیروئ، ځکه چې دا ټول د هغه خدای ﷻ احسان او انعام دی، نو تاسې یې هم له بېوزلو او مسکینانو څخه څه مه سپموئ."

مګر کله چې د منځني ورور خبرو پر هغوی باندې څه اغېزه ونه کړه، دی هم چپ پاتې شو او په پټه خوله له هغوی سره ملګری شو.

ټولو ورونو چې د بڼ خرابي ولیده، نو منځني ورور هغه خپله خبره بیا ور په یاد کړه. دوی وویل: پاکي ده زموږ رب لره بېشکه موږ ظالمان وو.

په پای کې ټولو وویل: په رښتیا چې موږ ګرم او ملامت یو، ځکه چې موږ د فقیرانو او غریبانو د برخې د خوړلو په نیت وتلي وو دا څه خرابي او تاوان چې موږ ته را ورسېد د هغه ذمه وار موږ په خپله یو مګر اوس هم د الله تعالیٰ ﷻ له رحمت څخه بې هیلې نه یو

او د هغه له مهربانۍ څخه دا خبره لېرې نه ده چې له خپل فضل او رحمت څنې موږ ته له پخواني باغ څخه یو بل ښه باغ را په برخه کړي.

(له کابلي تفسیر څخه)

---

سپارښتنې:

- ښاغلی ښوونکی دې پورتنۍ موضوع زده کوونکو ته مفصلاً تشریح کړي.
- ښاغلی ښوونکی دې پورته درس زده کوونکو ته د املاء په ډول ووایي.

| لغت: | معنی: |
|---|---|
| هوسا | آرام |
| ډاګ | میدان |
| ځیر | دقیق، متوجه |
| ګرم | ملامت |
| بې هیلې | نا امید |

- زده کوونکي دې پورتنۍ کیسه له یاده زده کړي او هم دې اصلي مطلب په څو کرښو کې ولیکي.

## د نوم حالتونه

د "نوم" حالتونه پر دوه ډوله دي: معنوي او لفظي، لومړی غواړو چې د نوم معنوي حالتونه وښيو:

۱- د نوم مشهور معنوي حالتونه څلور دي، چې په لاندې ډول ښودل کېږي:

۱- فاعلي حالت: کوم نوم چې په جمله کې فاعل وي، يعنې يو کار له هغه څخه صادر او وکړل شي يا ور پورې تړلی وي هغه حالت ته فاعلي حالت وايي.

لکه: زلمی خط ليکي. احمد ښوونځي ته ځي.

په دې جملو کې زلمی او احمد دواړه فاعلي حالت لري.

۲- مفعولي حالت: که چېرې يو نوم په جمله کې مفعول واقع شي، هغه حالت ته مفعولي حالت وايي. لکه بريالی ډوډۍ خوري. ملالۍ سبق وايي. په دې جملو کې ډوډۍ او سبق په مفعولي حالت کې دي.

۳- ندايي حالت: که چېرې يوه نوم ته غږ او ندا وکړی شي نو هغه نوم په ندايي حالت کې دی، لکه: ای وروره! ای هلکه! ای خورې! خورکۍ! تا ته وايم.

په دې جملو کې ورور، هلك، خور، خورکۍ ندايي حالت لري.

۴- ارتباطي حالت: که چېرې يو نوم د ارتباط له حروفو سره راوړل شي، هغه نوم ارتباطي حالت لري، لکه: له کوره راغلم، بازار ته ځم. په دې مثالونو کې، کور، بازار ارتباطي حالت لري او د ارتباط توري په کې "له، ته" دي، په پښتو کې د ارتباط توري دادي:

په، پر، د ، تر، بې، نا ، له، ته، لره، نه، څخه، ځينې، سره.

که چېرې دوه نومونه د "د" په واسطه له يو بل سره ارتباط پيدا کړي، نو هغه وخت ورته اضافي ارتباط وايي په اضافي ارتباط کې لومړی مضاف اليه او وروسته مضاف راځي. لکه: د زلمي قلم د اختر ورځ. او که مضاف اليه اضافي ضمير وي، نو بيا مضاف د مخه راځي لکه:

قلم مې راکه. کتاب دې څه شو؟

په پورته مثالونو کې زلمی او اختر مضاف اليه قلم او ورځ مضاف دي.

---

## سپارښتنه:

- ښوونکی دې د نوم د حالتونو په اړه بې له دې نور مثالونه هم وړاندې کړي.

پوښتنې:

۱. د نوم حالتونه په څو ډوله دي نومونه يې واخلئ؟
۲. د نوم مشهور معنوي حالتونه کوم دي ويې سپړئ؟
۳. مفعولي حالت څه ډول حالت ته وايي؟
۴. زده کوونکي دې د فاعلي، مفعولي، ندايي او ارتباطي حالتونو څو مثالونه په خپلو کتابچو کې وليکي.

# د نوم لفظي حالتونه

په پښتو کې نومونه د پای د بدلون په لحاظ په څو ډوله دي. چې په لاندې ډول ښودل کېږي:

۱- هغه نوم چې په نرمه (ی) ختم شوی وي په ندايي حالت کې مفتوح راځي او فتحه يې په (ه) ليکل کېږي او په فاعلي حالت او ارتباطي حالت کې د جمع په شکل اوړي. يعنې نرمه "ی" په څرګنده "ي" بدلېږي او په نورو حالاتو کې په اصلي شکل راځي، لکه:

ندايي حالت: ، ای زلميه!

فاعلي حالت: زلمي خط وليکه.

ارتباطي حالت: زلمي ته خدای تعالی ښه پوهه ورکړې ده.

اصلي حالت: توريالی سبق وايي، زلمی څه وايي؟

توريالی يې بوت.

۲- هغه صفت چې په منځ کې يې "و" وي په ندايي حالت کې مفتوح او په فاعلي او ارتباطي حالت کې دجمع په صورت راځي لکه:

ای پښتونه! واړه هلك وخندل. بې ننګي د پښتانه مرګ دی.

۳- کوم نومونه چې په صحيح حرف ختم شوي وي، جمع يې په "ان- ون" کېږي په ندايي حالت کې مفتوح يعنې د صحيح توري د زور په ځای(ه) ورسره نښلول کېږي او په نورو حالاتو کې په اصلي صورت راځي لکه:

ای ځوانه! ای هلکه!

یادونه: دغه راز د "له، تر، بې، نا" له اداتو سره هم مفتوح راځي لکه! بې فکره سړی، دی ناشکره دی.

تر کوره پورې ځم. له کوره راغلم.

**۴**- سماعي مؤنث او په "ه" او ځرګنده "ي" مختوم مؤنث په ندايي، فاعلي او ارتباطي درې واړو حالتونو کې په جمع بدلېږي لکه: ای مېرمنې! دښمنۍ ډېر کورونه وران کړل. نن دښادۍ ورځ ده.

**۵**- هغه معنوي مؤنث چې په صحيح حرف ختم وي په ندايي حالت کې يې په آخر کې اوږده "ې" زياتېږي د "له،بې، تر" سره مفتوح او په نورو حالاتو کې په خپل شکل راځي لکه: ای مورې! ای خورې: له موره بل څوك خوږ نشته. دا هلك بې موره دی. دی تر موره ورسوه.

**۶**- د جمع او جنس نومونه چې په ځرګنده "ي" اوږده "ې" يا په "ه" مختوم وي په ندايي، فاعلي، ارتباطي حالاتو کې يې د آخر "ی" او "ه" په اوږد "و" بدلېږي لکه: ای سړيو! مېلمنو ډوډۍ وخوړه. د غوړو قيمت زيات شوی دی. دغو سړيو ډېر کار وکړ.

ای ښځو! دغو ښځو کالي ووينځل، د مېلمنو کوټه چېرې ده؟

**۷**- جمع مذکر او جنس نوم چې په صحيح حرف ختم وي په ندايي، فاعلي او ارتباطي حالتونو کې يې آخر ته کوچنی واو

زیاتېږي لکه: ای هلکانو! هلکانو سبق ووایه. د غنمو نرخ څنګه دی؟

ای ځوانانو! دغو ځوانانو ډېر کار وکړ. د اوښانو بارونه درانه دي.

یادونه:

الف: ټول صفات چې جمع نه لري که چېرې موصوف یې جمع وي نو په درېواړو حالتونو کې یې په آخر کې واو زیاتېږي لکه: ای غمجنو! لږو کسانو کار وکړ. ای شتمنو! ډېرو خلکو خبرې وکړې. په ډېرو کې یې خوره، په لږو کې یې وېشه.

ب- په پښتو کې مصدر د جمع مذکر حکم لري او په دغو درې واړو حالتونو کې یې په آخر کې واو زیاتېږي لکه: ډېرو لیکلو ستړی کړم. دا د خوړلو څښلو وخت نه دی.

---

سپارښتنه:

- ښاغلی ښوونکی دې د نوم د لفظي حالتونو نور مثالونه د تختې پرمخ ولیکي او پر زده کوونکو باندې دې مشق او تمرین کړي.
- زده کوونکي دې د نوم دلفظي حالتونو نور مثالونه په خپلو کتابچو کې ولیکي.

# علامه سید جمال الدین افغان

د ختیځ ستر اسلام پوه علامه سید جمال الدین افغان د کونړ ولایت د ساداتو په یوه علمي او دینداره کورنۍ کې زیږیدلی و. د پلار نوم یې سید صفدر او دنیکه نوم یې سید علی و او په اتلسم پلار کې یې د نسب لړۍ سید جلال ته چې په ګنج العلم یې شهرت درلود رسیږي. د نومیالی سید د نسب لړۍ په دیرشم پښت کې سید الشهداء حضرت امام حسین (رض) ته رسیږي.
سید جمال الدین افغان (رح) د کونړولایت د اسعد آباد په سیمه کې د **۱۲۵۴** هـ کال په شعبان کې چې د **۱۸۳۸** م کال له اکتوبر سره سمون خوري زیږیدلی دی.
د سید جمال الدین پلار سید صفدر د امیر دوست محمد خان د پاچاهۍ په وخت کې له خپلې کورنۍ او خپلوانو سره لس کاله په کابل کې تیر کړل. سید جمال الدین تر اتلس کلنۍ پورې له خپلې کورنۍ سره په کابل کې و، لومړنۍ زده کړې یې له خپل پلار څخه کړې وې. سید جمال الدین ډیر ذکي او ذهین و، تر اتلس کلنۍ پورې یې ادب، نحو، بلاغت، تاریخ، فقه، تفسیر، حدیث، تصوف، منطق، کلام، الهیات، فلسفه، ریاضي، طبیعیات او طب ولوستل چې دا د هماغه وخت مروجه علوم وو او نومیالي سید په لږ عمر کې پرې بشپړ تسلط پیدا کړی و.
علامه سید جمال الدین افغان په دري او عربي ژبو د خپلې مورنۍ ژبې "پښتو" په څیر وینا او لیک کولی شول په اردو ژبه یې هم د مورنۍ ژبې

په ځېر خبرې کولې. پر دې سر بېره يې وروسته بيا انګرېزي، فرانسوي او روسي ژبې هم زده کړې. ترکيې ته له ورتګ وروسته يې په لږه موده کې پر ترکي ژبه هم د علمي مضامينو د ليکلو توان پيدا کړ. په انګرېزي او فرانسوي ژبه يې هم مضامين ليکل.

سيد جمال الدين افغان غوښتل چې په ټوله اسلامي نړۍ کې وګرځي چې د هغوی له حالاتو نه خبر شي، له همدې امله لومړی هندوستان ته لاړ. تر يوه کال وروسته په ۱۸۵۷م کال کې حج ته لاړ. هلته يې هم يو کال تېر کړ. وروسته بيا شام، فلسطين، عراق او ايران ته ولاړ او د يوه روايت پراساس ترکيې او بخارا ته هم تللی دی او ډېره موده يې پکې تېره کړېده.

په دغه لومړي او اوږده سفر کې سيد پر نوو علومو سر بېره يې ددغو سيمو د ټولنيزو او سياسي حالاتو په هکله هم ګټور معلومات لاس ته راوړل. سيد جمال الدين افغان په دغه سفرکې د مسلمانانو له حالاتو او مسايلوڅخه په ښه توګه ځان خبرکړ. د همدغو معلوماتو او مشاهداتو په نتيجه کې د سيد په ذهن کې د اسلامي امت د بيدارۍ او يووالي ستر فکر غزونه وکړه. نوميالي سيد د همدغې هيلې لپاره بيا د ژوند تر پايه مبارزه او مجاهده وکړه.

سيد جمال الدين افغان له دغه اوږده پنځه کلن سفرڅخه وروسته بېرته هرات، کندهار او له هغه ځايه جلال آباد ته راغی. هلته د امير دوست محمد خان په دربار کې د مصاحب او سلا کار په توګه

ومنل شو. سربېره پردې يې د شهزاده محمد اعظم خان د ښوونې او روزنې چارې هم وروسپارلې.

سيد جمال الدين افغان له (۱۸۶۱م نه تر ۱۸۶۸م )کال پورې د افغانستان د درې اميرانو( امير دوست محمد خان، امير شير علي خان) خاص سلاکار او د محمد اعظم خان لومړی وزير و. د محمداعظم خان له وروستۍ ماتې وروسته هغه ته د کورنيو جګړو او بې اتفاقۍ له امله دلته استوګنه سخته شوه. له همدې امله يې له شېر علي خان څخه حج ته د تلو اجازه وغوښتله او د کندهار پر لاره هندوستان ته روان شو.

دويم سفر:

د علامه سيد جمال الدين افغان زمانه د لوېديځ صنعت د لوړتيا او پر مختګ زمانه وه. چې دی له بې شمېره ستونزو سره مخامخ شو. مطلقه شاهي حکومتونه په کې دود وو او زياتره يې دانګليس، فرانسې او روسيې له ظالمانه استعماري قوتونو سره مخامخ وو. له همدې امله يې په اسلامي هيوادونو کې د اسلامي ورورولۍ، يووالي او آزادۍ لپاره هلې ځلې پيل کړې. علامه افغان د خپل قلمي جهاد د موثريت لپاره د اروپا د استعماري هيوادونو، لکه انګلستان، فرانسې، روسيې او نورو مطلق العنانه حکمدارانو پر ضد د «العروة الوثقی» نومې جريدې په خپرولو پيل وکړ. دغې جريدې په ډېره لږه موده کې نړيوال شهرت پيدا کړ. د العروة الوثقی مؤسس او سياسي مدير سيد جمال الدين افغان و. لومړی محرر يې د مصرنامتو مفتي او ليکوال شيخ محمد عبده و، لومړۍ ګڼه يې د (۱۸۸۴) م کال دمارچ په (۱۳) نېټه خپره شوه. د العروه الوثقی جريدې په لږه موده کې په ټوله اسلامي نړۍ کې نوم او لوستونکي پيدا کړل. انګرېزانو ته د دغې جريدې د اهميت

او محبوبیت په اړه اند ښننه پیدا شوه. له همدې امله یې په هره ممکنه وسیله د هغې د بندولو هڅې پیل کړې.
د همدغو هڅو په نتیجه کې نوموړې جریده د ۱۸۸۴ م کال د اکتوبر په میاشت کې د اتلسمې ګڼې له خپرېدو نه وروسته بنده شوه.
د علامه افغان د ژوند وروستۍ ورځې په ترکیه کې تېرې شوې. د اسلامي ورور ولۍ او وحدت دغه داعي د ترکیې په نشان تاش نومې ځای کې د سختې ناروغۍ له امله د ۱۸۹۷م کال د مارچ په نهمه نېټه په استانبول کې د شپېتو کالو په عمر وفات شو.

إنا لله وإنا إليه راجعون

د اروابناد علامه سید جمال الدین افغان مړی ځلوېښت کاله وروسته د افغانستان حکومت د ترکیې په اجازه کابل ته راوړ د کابل پوهنتون په ساحه کې د ډېرو پرتمینو مراسمو په ترڅ کې خاورو ته وسپارل شو.

---

سپارښتنه:

- ښوونکی دې د سید جمال الدین افغان په اړه له زده کوونکو څخه معلومات وغواړي.
- زده کوونکي دې د علامه سید جمال الدین افغان په هکله یوه لنډه مقاله ولیکي.

| لغت: | معنی: |
| --- | --- |
| سیمه | منطقه |
| ذکي | هوښیار |
| بلاغت | فصاحت او د وخت له غوښتنې سره سمه وینا |
| بشپړ | پوره |
| مشاهداتو | کتنو |
| سلاکار | مشاور |
| هیلې | آرزوګانې |
| ښکېلاک | استثمار |

# علم

بې له علمه به څه غواړي په دنیا څـــوك
که عاقل وي که هوښیار وي که دانا څوك

تردې ښه متاع په دې دکان کـــې نشـــته
سود به وکا که کوي دغه سودا څوك

درست جهان قربان د علم تر ګوهـــر شه
دغه وایم که مې وپوښتي رښـــتیا څوك

تر قیامته خرابي پرې اثر نه کا
که د علم په اساس کېږدي بــــنا څوك

چې د علـــم د طبیب دارو ونــــه خـــوري
له مرض د جهله نه مومي شفا څوك

چې د عـــلم رهنـما په جهان نـــه وي
نور به نه وي د ګمراهو رهنما څوك

تــر بلا د جهل پورتـــه بلا نـــشـتـه
پر دا هسې بلا مشه مبـــــتلا څـــوك

هغه ښه دی چې د خپل مــــلت ښه وایي
خدایﷻ دې نه کاندې په بد ویل ګویا څوك

هـــر ملـت چې وي بې عـــلمه نا بــــینـــا وي
بارې مه شه په جهان کې نـــا بـــینا څـــوك

که د جهل علاج غواړي په جهان کې

بې له علمه به بیا نه مومي دوا څوک

پېش بیني د انسان ښه ده په هر کار کې

دا ښه نه ده چې د نن کار کړي فردا څوک

څوك وتلی له عهدې د دې بیان شي

بس ده، زه څوك د ملت مدح وثنا څوك

---

سپارښتنې:

- ښاغلی ښوونکی دې پورتنی شعر معنا کړي.
- زده کوونکي دې په شعر کې د ضمیر کلمې پیدا او په خپلو کتابچو کې ولیکي.
- زده کوونکي دې د پورتني شعر معنا په نثر په خپلو کتابچو کې ولیکي.

# په اسلام کې د کار ارزښت

اسلام د ژوند مکمل قانون دی او د انساني ژوند مختلف اړخونه داسې تنظیموي چې د ذرې په اندازه کمی پکې نه وي.
هو! کله چې انساني ژوند د الٰهي برنامې له مخې تنظیم شي پر هغه بیا دګوتو ایښودلو مجال نشته، کار هم چې د انساني ژوندانه له مهمو اړخونو څخه شمېرل کېږي د اسلام له نظره ډېر ارزښت لري.
اسلام تل خپلو پیروانو ته حکم کوي چې د حلال رزق د حاصلولو لپاره هلې ځلې وکړي او له همدې لارې خپل ژوند تامین کړي.
اسلام امر کوي چې د کارګر مزدوري پرته له کوم ځنډ څخه هغه ته پوره ورکړله شي.
الله تعالی ﷻ د کار په برخه کې فرمايي:
" یعنې کله چې د جمعې لمونځ اداء کړ شو، نو پر ځمکه خپاره شئ او د حلالې روزۍ طلب او غوښتنه وکړئ."
له حضرت محمد ﷺ څخه هم د کار د ارزښت په اړه زيات احادیث نقل شوي دي. لکه چې فرمايي:
" په تحقیق سره الله ﷻ هغه مؤمن خوښوي چې د یوه کسب په واسطه ځان ته روزي ګټي."
بل ځای فرمايي: " هېڅکله ستاسې کوم یوه د خپل لاس له ګټلې روزۍ څخه بله ښه روزي نه ده خوړلې."

اسلام کارته په درنه سترګه ګوري او د کارګر مزدوري د هغه منل شوی حق ګڼي، لکه چې مسلمانانو ته لارښوونه کوي:
" مخکې له دې چې د مزدور خولې و چې شي، مزدوري يې ورکړئ."
د رسول الله ﷺ يو بل حديث دی چې ترجمه يې داسې ده: "درې کسه دي چې د قيامت په ورځ يې زه مدعي يم. يو هغه سړی چې چاته زما په نامه سوګند خوړلو سره پناه ورکړي او بيا له هغه سره خيانت کوي. دويم هغه سړی چې يو آزاد شخص خرڅ کړي او د هغه بيه په لاس راوړي. دريم هغه سړی چې مزدور په مزدورۍ ونيسي او هغه ته له پوره کارکولو څخه وروسته د هغه مزدوري ور نه کړي."
که پورتنيو نصيحتونو ته ځير شونو راته څرګنده به شي چې کار د اسلام له نظره ډېر اهميت لري او کارګر د خدای ﷻ او د هغه د رسول ﷺ دوست دی او د هغه د حقونو په برخه کې ډېر تاکيد کوي.

---

❖ ښاغلی ښوونکی دې د کار د ارزښت او ګټو په اړه له زده کوونکو څخه معلومات وغواړي.
❖ زده کوونکي دې د دې درس حديث چې د کار په هکله ويل شوي دي له ياده زده کړي.
❖ زده کوونکي دې د کار د ارزښت په اړه يوه لنډه مقاله وليکي.

پوښتنې:

١. الله ﷻ د کار په برخه کې څه فرمايلي دي؟
٢. حضرت محمد ﷺ د کار د ارزښت په هکله څه ويلي دي؟
٣. د کار او بې کارۍ تر منځ کوم توپيرونه موجود دي؟

# د رسول اکرم ﷺ نصیحت

یوه سړي له رسول الله ﷺ څخه نصیحت او پند وغوښت.

رسول اکرم ﷺ ورته وفرمایل:

(که درته ووایم منې یې؟)

سړي وویل: هو.

رسول الله ﷺ وفرمایل: (که ویې وایم منې یې؟)

سړي وویل ولې نه.

رسول الله ﷺ وفرمایل: (منې یې؟)

سړي وویل: څنګه یې نه منم!؟

پیغمبر اکرم ﷺ له درې ځله ټینګار او پام اړونې وروسته ورته وویل: (د هرکار اراده چې دې وکړه، لومړی یې نتیجه وسنجوه. که دې ولیده چې نتیجه یې ښه ده، ویې کړه او که دې ولیده چې کوږوالی لري مه یې کوه.)

---

پوښتنې:

۱. حضرت رسول اکرم ﷺ دا جمله (که ویې وایم منې یې) د کوم مقصد لپاره درې ځله د تکرار په ډول فرمایلې ده؟

۲. هغه سړي د حضرت رسول اکرم ﷺ نصیحت واورېده ستاسې په خیال هغه به له کومو کارونو نه ډډه کړې وه ؟

۳. عزم او اراده په کا رکې څه اغېزې لري؟

۴. زده کوونکي دې د رسول اکرم ﷺ نصیحت له یادو زده کړي او بیا دې په خپلو کتابچو کې ولیکي.

۵. د پورته نصیحت اصلي مطلب په څو کرښو کې ولیکئ.

# د حج قیمت

وایي چې یوه پادشاه د حج نیت وکړ، وزیرانو عرض وکړ چې: دپادشاه په وتوکې د ملك خلل دی. عالم به سره وران شي. په دې ملك کې یو فقیر چې ډېر حجونه یې کړي دي هغه ته به ورشو او د یوه حج ثواب به ترې په قیمت واخلو.

غرض دا چې پادشاه فقیر ته ولاړ، فقیر ورته وویل:

چې ټول ثوابونه د ټولو حجونو په قیمت درکوم پاچا وویل: د یوه حج قیمت به څومره وي؟

فقیر وویل:

هر قدم چې ما د حج په لارکې ایښی دی د یوه قدم بیه ټوله دنیا ده. پادشاه عرض وکړ چې له ما څخه دغه قیمت چېرته دی، ټوله دنیا چې د یوه قدم قیمت شوه، نو حج به څرنګه او په څه وشي؟

فقیر وویل: چې ای پادشاه! زما د ټولو حجونو قیمت تاته ډېر آسان دی!

پادشاه وویل:

څرنګه؟

فقیر وویل:

که ته یو ساعت د مظلوم په انصاف خاصة لله مشغول شې او د هغه ساعت ثواب ماته بخشش کړې نو زه به د شپېتو واړو حجونو ثواب دروبخښم، نو په دغې سودا کې به زه ډېر سود من یم.

(له عنوان النصایح څخه)

---

❖ ښاغلی ښوونکی دې د لوستل شوي لوست مطلب زده کوونکو ته بیان کړي.

❖ ښوونکی دې نوي لغتونه زده کوونکو ته معنا کړي.

❖ زده کوونکي دې د لوست مطلب په خپو کرښو کې ولیکي.

# رښتیاویل

رښتینولي او صداقت د قرآني اخلاقو له جملې څخه یو غوره خوی دی. اسلام د اخلاقي فضایلو او مکارمو د تکمیل دین دی. غوره اخلاق او سپېڅلي خویونه د مؤمن په عملي ژوند کې د ایمان د نښو او نتایجو په توګه ټاکل شوي دي.

د "المؤمنون" په سورت کې له عباداتو سره اخلاق هم د ایمان د خاوندانو په ضروري صفاتو او نښو کې شمېرل شوي دي، د قرآني اخلاقو په جمله کې رښتیا ویل، د دروغو غندنه، د بې عمله علم مذمت، عمومي عفوه او بښنه، توکل، صبر، شکر، په حق ټینګار او د خدای ﷻ په لار کې سر ورکول تر ټولو لومړی ذکر شوي دي، که موږ دغې مسئلې ته لږ ځیر شو، نو دا به په خپله راته څرګنده شي چې د اسلامي عقیدې بنسټ په ایمان او رښتیا ویلو ایښودل شوی دی.

رښتیا ویل او رښتینولي د پیغمبرانو ضروري او لازمي صفت دی او دا صفت له پیغمبرانو څخه هېڅکله هم جلا کېدلی نه شي. رسول الله ﷺ له پیغمبرۍ مخکې هم په امانت او رښتیا ویلو کې زښت زیات شهرت درلود.

رښتیا ویل او صداقت په ټولنیز ژوند کې د وګړو او ټولنې د ثبات، ډاډ، باور او د عزتمن ژوند ضمانت کوي.

رښتیا ویل د ژوندیو ملتونو او ټولنو د پر مختګ او بقا ستر عامل دی. د کور، کلي او نورو ټولنیزو چارو سمون د ټولنې د وګړو د خپل منځي باور، صداقت او رښتیا ویلو پر بنسټ ولاړ دی. الله تعالی ﷻ دخپلو بند ګانو د لارښوونو او ټولنیز ژوند د چارو د سمون لپاره، په تقوی، صداقت او رښتیا ویلو امر کړی دی.

خدای ﷻ په قرآن عظیم الشان کې فرمایلي دي:

ژباړه:

- ای مؤمنانو! له خدایﷻ څخه وېره وکړئ او تل له رښتینو خلکو سره اوسېږئ.
- ای مؤمنانو! له خدایﷻ څخه وېره وکړئ او ووایئ پخه او محکمه خبره.

وايي چې يو سړی رسول اللهﷺ ته ورغی او ويې ويل:
يا رسول اللهﷺ ! په ما کې څلور بد خويونه دي: يو دا چې بد کاره يم، دويم دا چې غل يم، درېيم دا چې شرابي يم او څلورم دا چې دروغجن هم يم.
تاسې چې ماته په دې څلور واړو کې د هر يوه دپرېښودلو امر کوئ، نو زه به يې پرېږدم.
رسول اللهﷺ هغه ته وفرمايل: ((دروغ ويل پرېږده.))
هغه سمدلاسه د دروغ نه ويلو کلکه ژمنه وکړه او کور ته لاړ.
د شپې يې د تېر په څېر شراب څښلو ته زړه وشو او ددې تر څنګ يې له يوې بد لمنې ښځې سره بد کارته هم زړه وپارېده. په همدې شيبه کې هغه ته له رسول اللهﷺ سره خپله ژمنه ورپه ياد شوه. هغه فکر وکړ چې که سبا ته رسول اللهﷺ له ماڅخه د شراب څښلو او بد کارۍ پوښتنه وکړي نو زه به څه وايم، که رښتيا ووايم نو د شرابو او زنا سزا به راکړل شي او که دروغ ووايم نو په خپله ژمنه به مې وفا نه وي کړې. په همدې اندېښنه کې له دغو دواړو ناوړه عملونو څخه تېر شو، شپه چې پخه شوه نو د غلا په نيت راپور ته شو خو بيا هم ورسره همدا پوښتنه او اندېښنه پيدا شوه چې سبا به رسول اللهﷺ ته څه وايم که دروغ وايم نو ژمنه مې ماتېږي او که رښتيا وايم نو لاس مې غوځېږي، په دې توګه هغه غلا هم پرېښوده.

سهار يې رسول الله ﷺ ته ټوله کیسه وکړه او ورته ویې ویل:
د د روغ نه ویلو او رښتیا ویلو له امله خدای ﷻ له څلور واړو ناوړو خویونو او عملونوڅخه وژغورلم. رسول الله ﷺ د هغه په خبره ډېر خوشحاله شو.
راځئ ټول دا ژمنه وکړو چې د خپل مؤمن بېه کتاب قرآن عظیم الشان په څرګند او پرېکنده حکم عمل وکړو چې فرمایي:
ژباړه:
"له خدای ﷻ څخه وېره وکړئ او تل له رښتینو خلکو سره اوسېږئ".
دا ځکه چې په همدې کې د دنیا او آخرت د برې رمز نغښتی دی.

---

پوښتنې:

١. رښتیا ویل څه ګټې لري؟
٢. رښتیا ویل د چا صفت دی؟
٣. د عبادت تر څنګ کوم صفت ضروري دی؟
۴. د اسلامي عقیدې بنسټ پر څه ایښودل شوی دی؟
۵. رسول الله ﷺ هغه بد عمله سړي ته د کوم ناوړه خوی د پرېښودلو امر کړی و او نتیجه یې څه شوه.

| لغت: | معنی: |
|---|---|
| ژمنه | وعده |
| ټولنیز | اجتماعي |
| مذمت | غندنه |
| پرېکنده | قاطع |

❖ زده کوونکی دې پورتني لغتونه په جملو کې استعمال کړي او په خپلو کتابچو کې دې ولیکي.

# ناپوهي رنځ دی

نا پوهي غونډې بل نشته په جـــهان رنـځ
اخته مه شه څوك په هسې بې درمـــان رنځ

چې نه خپله علاج کړای شي نه بل پوه کړي
چــاره نه لري بې مرګه د حيـــــوان رنـځ

کوم وطن چې يې د علم برخـــــه لـــږ وي
هم له مځکې نــه ورځي هم له آسمان رنځ

ځان ځاني لويه بــــلا ده و هــر قـــام تـه
خدای دې نه ورولـــي چاته داسې شان رنځ

په يوه زړه چې د خپلوانو سـره ژوند کړي
خود به ورك وي له دې ټولو د آرمان رنځ

که په هرڅه اړ څوك لاس ته د دښمن وي
تر دې پورته پر دنيا نشته بـــل ګران رنځ

سپارښتنه:

- ښاغلی ښوونکی دې شعر معنی کړي او د ناپوهۍ په هکله دې لنډ معلومات ورکړي.
- زده کوونکي دې د شعر مطلب په نثر وليکي.
- زده کوونکي دې په وار سره د شعر يو يو بيت معنا کړي.

# مرســـته

د ټـولنيز ژونـد پـه بهيـر کـې د يـوه بـل مرسـتو تـه اړتيـا يـو څرګنـد حقيقـت دی. د ټـولنيز ژونـد اړتيـاوې، مـسايل او سـتونزې دومـره ډېرې دي چې هيڅوك يې هم په يوازې ځان د پـوره کولـو او اوارولـو له توانه نشي وتلای. د مرستې خصوصيت دا دی چې اغېزه يې لـه انفرادي کار او فکر څخه څو چنده زياته وي.

د خپل منځي مرستو ضرورت نـه يـوازې دکـور، کلي او يوه هېواد د وګړو تر منـځ موجـود دی، بلکې پـه نړيوالـه سـطحه د هېوادونـو ترمنځ هـم د ژونـد پـه ګڼو اړخونو کې د مرستې ارزښت او ضرورت ورځ په ورځ زياتېږي.

اسلام د نړۍ تر ټولو اديانو غـوره، ژونـدی او ټـولنيز ديـن دی چـې د وګـړو ټـولنيزو حقونـو، هوسـا او پـتمن ژونـد تـه پکـې زياتـه پاملرنـه شـوې ده لـه همـدې املـه يـې د يـوې مـذهبي او سـوکاله ټـولنې د جوړولو او خپل منځي مرستو لپاره ډېر روښانه اصول وړاندې کړي دي.

خدای ﷻ په قرآن عظيم الشان کې فرمايلي چې:

- ټول د خدای ﷻ په پړي (د اسلام دين) منګولې ښخې کـړئ (سـره يوشئ) متفرق او خواره کېږئ مه.
- په نېك کار او تقوی کې له يوه بل سره مرسته وکړئ نه پـه ګنـاه او ظلم کې.
- په تحقيق سره مؤمنـان سـره ورونـه دي نـو د دوو ورونـو تـر منـځ مو روغه جوړه او سـوله وکـړئ. اسـلام د يـو بـشپړ او جـامع ديـن په حيث د ټولنې د سمون لپاره زياته پاملرنه کـړې ده او د خپلـو لارښوونو په ترڅ کې يې د ټولنيزو مرستو غـوره لارې چـارې او بنيادي اصول بيان کړي او هغه په لاندې ډول دي:

۱. د هر کار لپاره باید لومړی مقدمات برابر شي، له همدې امله اسلام لومړی د ټولنې وګړي وحدت او یووالي ته رابولي، ځکه مرسته او تعاون د نظر او عمل له وحدت څخه پرته ګران کار دی.
۲. مرسته باید د خیر او تقوی لپاره وشي. ددې اصل ساحه دومره پراخه ده چې بې له شکه هغه ټولې ښېګڼې پکې راتلای شي چې د وګړو او ټولنې د هوسا او پتمن ژوند او پر مختګ لپاره ضرور دي.
۳. له یو بل سره د مرستې احساس باید د اسلامي ورورولۍ او عدالت غوښتنې پر عالي روحیه ولاړ وي. همدغه اصل، ټولنه او وګړي د نېکمرغۍ په لور بیا یي. ددې بر عکس په هره ټولنه کې چې د اسلامي اخوت، مرستې او تعاون ځای د حاکم او محکوم، ظالم او مظلوم اړیکو نیولی وي، هغه ټولنه له زوال سره مخامخ کېږي.
۴. په نېکۍ او خیر کې مرسته کول باید د یوه سپیڅلي اسلامي احساس او تقوی پر بنسټ ولاړه وي، که نه نو هغه به په رښتینې توګه داسې ګټوره مرسته نه وي چې اسلام موږ ته پرې امر کوي، بلکې هغه به په ګناه، تیري او حق خوړلو کې مرسته وي.
۵. په ظلم، ناوړه او ناروا کارونو کې باید له هیچا سره مرسته ونه شي که څه هم زموږ ډېر نژدې دوستان او یا خپلوان وي. په ظلم او ناروا کې له چا سره مرسته کول ستر ظلم او ګناه ده او ظلم د ټولنې د پرمختګ بنیادونه له بېخه نړوي.
۶. اسلام د ټولنې بېوزلو، اړو، بې لاسو، بې پښو، ړندو او نورو ته ډول ډول تدابیر غوره کړي دي چې د ټولنې ددغې طبقې اړتیاوې تر سره شي او ټولنیز حیثیت یې خوندي پاتې شي.

په دې منظور اسلام د زکات، عُشر او نورو صدقاتو د وېش په هکله منظم اصول او قوانين لري.
رسول الله ﷺ هغه پيغمبر دی چې خپل ژوند يې د بېوزلو او مسکينانو په ډول تېر کړ او دا دعا يې وکړه:
(ای خدايه! ما په مسکينۍ کې ژوندی ولره او د مسکينانو په ډله کې مې پورته کړه) سر بېره پردې رسول الله ﷺ هم د ټولنې د هرې طبقې خلکو په تېره بيا له بېوزلو او اړو سره خپله خواخوږي، همدردي او مرسته عملاً ثابته کړې ده.
د رسول الله ﷺ د کور چوتره د بېوزلو او مسکينانو د پناه ځای او د سر سيوری و.

---

پوښتنې:

۱. په اسلام کې له بېوزلو سره د مرستې لپاره کوم ډول عملي تدابير غوره کړای شوي دي؟

۲. مرسته په کومو مواردو کې غوره ده؟

۳. د مرستې په هکله خدای ﷻ څه فرمايلي دي؟ له يادو يې زده کړئ.

۴. زده کوونکي دې په ټولنيز ژوند کې د مرستې د اهميت په برخه کې لس کرښې مقاله وليکي.

۵. ښوونکی دې له همدې لوست څخه زده کوونکو ته يو پاراګراف املا ووايي.

# د عالمانو فضیلت

عالمان دي روښنايي د دې دنيا
عالمان دي د تمام جهان پېشوا

که څوك لار غواړي و خداى ﷻ وهم رسول ﷺ ته
عالمان دي د دې لارې رهنما

کيميا ګر که د کيميا په طلب ګرځي
همدمي د عالمانو ده کيميا

په مجلس د عالمانو به سره زر شي
که څوك کاڼى وي يا لوټه د صحرا

جاهلان دي په مثال د مُردګانو
عالمان دي په مثال د مسيحا

چې مرده يې له نفسه ژوندى کېږي
عالمان دي واړه هسې اوليا

هر سړى چې رتبه نه لري د علم
سړى نه دى خالي نقش دى ګويا

زه "رحمان" حلقه بګوش د هر عالم يم
که اعلى دى که اوسط دى که ادنا

(رحمان بابا)

---

تمرين:

- زده کوونکي دې لاندې لغتونه معنا او په جملو کې استعمال کړي.
  - پېشوا - صحرا - اعلىٰ
- زده کوونکي دې پورتنى شعر په کتابچو کې وليکي او بيا دې په نثر واړوي.
- ښاغلى ښوونکى دې د متن همقافيه کلمې له زده کوونکو څخه وپوښتني او د هغوى غلطۍ دې ور په ګوته کړي.

## نه بد لېدونکي نومونه

په پښتو کې ځينې نه بدلېدونکي نومونه هم شته چې هغه په ټولو حالاتو کې په يو ډول استعمالېږي او په پای کې يې کوم بدلون نه راځي. دغه ډول نومونه په بېلابېلو حالاتو کې لاندې ښودل کېږي.

١- هغه نوم چې په پای کې يې (الف) راغلی وي لکه: ای کاکا! دادا مې راته يو ښه قلم راوړ. حميد په خندا راغی.

٢- هغه نرينه نوم چې په کوچنۍ (ه) ختم وي، لکه: ای نيکه! ځلمي ته خپل تره قلم وبانښه، بې زړه سړی هېڅ نه شي کولای.

٣- هغه نوم چې په پای کې يې ځرګند او اوږد واو وي لکه: پېشو غوښه وتښتوله. زه د پښتو په ژب دود پوهېږم.

٤- هغه نوم چې په زورکۍ واله (ۍ) ختم وي لکه: نجلۍ، ږلۍ، ځوکۍ، نړۍ.

٥- هغه نوم چې په اوږده (ې) ختم وي لکه: ادې شودې راوړې، له خوانبې سره يې وخوړې.

٦- هغه نرينه نوم چې په ځرګنده (ي) ختم وي لکه: مو چي بوټونه وګنډل، دوبي زما درېشي سباته راوړي.

٧- هغه مذکر نوم چې په ځرګنده (ه) ختم وي لکه:
ګرانه مېلمه! ډوډۍ وخوره. کوربه مېلمه ته په درنه سترګه ګوري.

---

❖ زده کوونکي دې د نه بدليدونکو نومونو متن ولولي او مهم ټکي دې له يادو زده کړي.

❖ زده کوونکي دې د نه بدليدونکو نومونو نور مثالونه په کلمو او جملو کې يو له بل سره مشق او تمرين کړي.

# حکیمانه خبرې

هر مسلمان ته په کار دي چې دغه لاندیني لسګوني اسلامي احکام هم په خپله عملي کړي او هم یې نورو ته د عملي کولو سپارښتنه وکړي:

١- کله چې آذان واورې نو په هر کار چې لګیا یې هغه پرېږده او د لمانځه ادا کولو ته تیاری ونیسه.

٢- د قرآن کریم تلاوت کوه، غوږ ورته نیسه او د خپل ژوند یوه شیبه هم په بې هدفه او بې ګټې کار مه لګوه.

٣- زیار باسه چې عربي او نورې ژبې زده کړې او خبرې پرې وکړې.

٤- په هېڅ کارکې زیاته شخړه او جګړه مه کوه.

٥- له زیاتې خندا څخه ډډه وکړه ځکه چې زیاته خندا د خدای ﷻ له ذکر نه غفلت پیدا کوي.

٦- بې ځایه ټوکې مه کوه ځکه چې بې ځایه ټوکې د سړي وقار او عزت له منځه وړي.

٧- د خبرو په وخت کې له اړتیا څخه زیات خپل آواز مه اوچتوه.

۸- له غیبت کولو څخه ډډه وکړه او د نېکۍ له خبرو څخه پرته نورې خبرې کومه ګټه نه لري.

۹- کله چې له خپلو اسلامي ورونو سره مخامخ کېږئ نو له السلام علیکم څخه وروسته خپل ځان ورته معرفي کړئ ځکه چې د اسلامي دعوت بنسټ پرمعرفت او محبت ولاړ دی.

۱۰- ډېر کارونه په لږ وخت کې ترسره کوه د نن ورځې کار سباته مه پرېږده.

---

تمرین:

- زده کوونکي دې په وار سره د حکیمانه خبرو پر مطلب باندې خبرې وکړي.
- زده کوونکي دې حکیمانه خبرې له یادو زده کړي او په خپله روانه ژبه دې په کتابچو کې ولیکي.

پوښتنې:

۱. که تاسې خپل کشر ورور ته لارښوونه وکړئ څه به ورته و وایاست؟

۲. پورتنۍ چارې تر سره کول د مسلمان په ژوند کې څه بدلون راولي؟

۳. ښوونکی دې پورتنی لوست زده کوونکو ته داملا په ډول ووايي.

# طمع

چې سړی لــه سړي کــړي د دنيا طمـــع

سړيتوب به يې سپيتوب شي په دا طمع

د هـغـو د حــيا پښه مـــدام ښويېـــږي

چې يې واخيستــه د نس په هوا طمع

د دانې پـه طمـعـه بند ازاد مـرغه شي

ژر به ستا په ځان بلا شي داستا طمع

له هــغـو تـرخه ويـل د حق شي پـاتـــه

چې يې خــوله کاندي خوږه د حلوا طمع

ژر يې کار د اشنايـيه ســره وران شي

چې پيدا شي له اشنا د اشنا طمع

د اوبو څاڅکی يې دُر شي په سينه کې

څو چې پرې کاندي صدف د دريا طمع

هېڅ علاج يې د جهان په حکمت نه شي

چې ايساره په وجود کـړي بلا طـمـع

پر دي پرېږده که په قطع پلار و مور وي

د هیــچا وچاته مه شه پیدا طمع

له دغې طمعې طاعون ښه دی "حمیده"

چې کــوې د نـفس لــپــاره لــه چا طمع

(د حمید مومند له دیــوان څخه)

---

سپارښتنه:

- ښاغلی ښوونکی دې پورته شعر معنا کړي.
- زده کوونکي دې په وار سره یو یو بیت ولولي او بیا دې معنا کړي.
- زده کوونکي دې د شعر پر څپو باندې کار وکړي.
- زده کوونکي دې د شعر مطلب په نثر ولیکي.

# لنډۍ

لنډۍ هغه اشعار دي چې شاعر يې معلوم نه دی او د هر حساس پښتانه او حساسې پښتنې د احساساتو هنداره ده.

د پښتنو په غرو، کليو او ښاروکې، په شنو درو او لويو دښتو کې د ځروبي "ابشار" ترڅنګ او د کېږدۍ اړخ ته، د شپانه په شپېلۍ او د ښوال په نی کې او بالاخره د پښتنې خاورې په هر ګوټ کې له دې اشعارو څخه په يو شان خوند اخيستل کېږي.

زاړه يې د ځوانۍ د خاطراتو په ياد وايي، زلميان او پېغلې د خپل زلميتوب شور او مستي په کې لټوي، مينانو ته د راز او نياز ريباري کوي، توريالي ورسره د تورو په ميدان کې ګډېږي او پردېسيان په پردېسۍ کې د خپل وطن مينې پرې تازه کوي.

دا اشعار څومره چې ساده، سليس او روان دي هغومره د پرديو ژبو له اغېزې څخه هم پاك دي او د سيلابي سيستم په اساس ځانته عروض لري، لومړۍ برخه يې لنډه (۹) سېلابه، او دويمه برخه يې اوږده. (۱۳) سېلابه ده.

## اجتماعي لنډۍ:

تــل پــه زحــمت پســې راحـــت وي

چا چې زحمت ليدلی وي راحت به وړينه

پــه دنيا مــه نــازېـــــږئ خـلـکـو

دنيا فـاني ده په ارمان به ځنې ځونه

پــه نسب څــوك نــه ســړی کېږي

ســړی هغه دی چې يې خوی د سړو وينه

د سر دښمن مې هـوښيار ښـه دی

زه د بې عقلو په دوســـتۍ ستومانه يمه

---

سپارښتنه:

- ښاغلی ښوونکی دې د لنډيو د ويلو په موخې خبرې وکړي.
- زده کوونکي دې نورې اجتماعي لنډۍ د خپلو کورنيو غړو څخه زده کړي او بيا دې په ټولګي کې ووايي.
- زده کوونکي دې د پورتنيو لنډيو مطلب په څو کرښو کې وليکي.

**حماسي لنډۍ:**

راشه پر قبر مې اور بل کړه

که مې پرمړينې پر شاو ويني ټپونه

توري به نه کړو نو به څه کړو؟!

چې مو شېدې د پښتنې رودلې دينه

په تور ټوپک ويشتلی راشې

د بې ننګۍ احوال دې مه راځه مينه

---

سپارښتنه:

- ښاغلی ښوونکی دې د حماسي لنډيو په اړه چې په کوم وخت کې ويل کېږي معلومات ورکړي.
- زده کوونکي دې د پورته لنډيو د بيتونو سيلابونه وشمېري او بيا دې په خپلو کتابچو کې وليکي.

# مسلم ته خطاب

ځوداسلام لپاره نه شې سر په دارمسلمه

پیدا به نکړې ترقي د خپل دیار مسلمه

څو د پتنګ په شان د شمعې په لمبه پوخ نه شې

نه به واصل شې د محبوب په ښه دیدار مسلمه

څو د بورا په شان وزر په اغزو نه کړې څیرې

نه به واصل شې د چمن په ګلعذار مسلمه

څو دې سرې وینې تویې نه شي داسلام په مینه

نه به هډو نه د دښمن کړې تار په تار مسلمه

څو د نبيﷺ په هر قدم باندې قدم کښېنږدې

پیدا به نکړې په هیڅ ځای کې اقتدار مسلمه

څو د صدیق په شانې نشې په اسلام کې صادق

په چاپلوسۍ باندې به نکړې تمام کار مسلمه

 څو دې غیرت عمري ﷺ په وجود نه شـــي مـحکـم

فـتح بـه نـه کړې روم او مصر په دې چار مـسلمه

څو چې اوصاف "حیدري" په ځان کې نه کړې پیدا

کلـه بـه سر کـړې د دښمن پــه سرد دار مــسلمه

(حیدري)

---

تمرین:

- زده کوونکي دې پورتنی شعر په خپلو کتابچو کې ولیکي او بیا دې معنا کړي.
- لاندې لغات معنا او په مناسبو جملو کې استعمال کړئ:

- ګلعذار - اقتدار - صدیق - اوصاف.

- په پورتني شعر کې داسې کلمې پیدا کړئ چې په دغې ( ې ) باندې پای ته رسېدلې وي.

# لیک نښې

بې له تورو او حروفو ځینې نښې او علامې هم شته چې د لیك په لوستلو او ویلو کې ډېره مرسته کوي چې په لاندې ډول بیانېږي:

۱- کامه (،)

دا علامه د عطف یعني واو په ځای د مختلفو جملو د بېلولو او د وینا د انفصال لپاره استعمالېږي. لکه په دې عبارتونو کې: کابل، کندهار، هرات، او مزار د افغانستان لوی لوی ښارونه دي.

چې بد ګرځي، بد به پرځي.

۲- وقفه (؛) دا علامه د مشابهو جملو په آخر کې ایښودل کېږي او په وینا کې له فاصلې نه زیاته وقفه او انفصال راښیي. لکه په دې عبارت کې: ښوونکی باید د ښوونې په اصولو ښه پوه وي څه چې وایي؛ هغه باید په زده کوونکو زده کړي.

۳- ټکی (۰) دا علامه د جملې په آخرکې راځي او له وقفې څخه زیاته فاصله راښیي لکه: د وطن مشران په موږ حق لري. موږ باید له دوی سره د زړه مینه ولرو او هر وخت یې په ښه نامه یاد کړو.

۴- دوې نقطې یا شارحه (:) دا علامه د هغې جملې په آخر کې ایښودل کېږي چې وروسته یې تفصیل او شرحه راځي، لکه: دوه کاره به کوئ: یو به دروغ نه وایئ. بل به له چاسره حسد نه کوئ.

۵- ربط (-) دا علامه د يوې کلمې ربط له بلې سره ښيي. لکه:
ځلور- پنځه تنه راغلل.
که چېرې د يوې کلمې نيمه برخه د يوې کرښې په آخر کې او نيمه برخه يې د بلې کرښې په ابتداء کې راشي نو هم دا علامه د لومړۍ برخې په آخر کې ايښودله کېږي چې له دويمې برخې سره مربوطه ولوستله شي.
۶- ليندۍ ( ) ددې دوو قوسي کرښو په منځ کې معترضه جمله، خاص نومونه، اعداد او خارجي کلمات ليکل کېږي، لکه:
د پښتو يو ښه کتاب (پټه خزانه) په دې ورځو کې چاپېږي.
۷- تفريقيه علامه [ ] هرکله چې په يوه معترضه جمله کې بله معترضه جمله يا کلمه راشي نو لومړۍ معترضه د تفريقيه علامې په منځ کې او بله معترضه جمله په معترضه علامه کې په دې ډول ليکل کېږي:
که رښتيا ووايم [خدای( جل جلاله) مې دې غاړه نه نيسي ] دا سړی دغلو مل دی.
۸- غبرګې ليندۍ، مميزه « » کله چې يو عبارت له يوه کتابه نقل کېږي يا کومه مقوله راوړله کېږي نو په مميزه علامه کې يې ليکو.
۹- د پوښتنې نښه (؟) دا علامه د هغې جملې په آخر کې راځي چې مطلب ترې استفهام او پوښتنه وي.
۱۰- د تعجب علامه (!) دا علامه د تعجب، حيرت، ترديد ، امر او ندا په وخت کې استعمالېږي.
د بېلګې په ډول: ای ځوانه! دلته راشه.

پرون په شنه آسمان اوربنت وشو!

**۱۱- د انـصراف علامـه (...) د خبـرو د قطـع کولـو پـه ځـای یـا د محذوفو جملو او کلمو په عوض دغه ټکي راوړل کېږي، که چېرې د یوې جملې په پای کې (...) څلور نقطې راغلې وي نو درې ټکي د حذف شوو کلمو په ځای او څلورم ټکی د جملې د ختمېدو لپاره راځي.**

---

سپارښتنه:

- ښوونکی دې د پورتینو ښو د استعمال ځایونه په عملي توګه زده کوونکو ته وښيي او په کتابچو کې دې ولیکي.

تمرین:

- زده کوونکي دې د هرې نښې لپاره څو جملې ولیکي اوبیا دې لیک نښې په کې وکاروي.

پوښتنې:

۱. کامه ( ، ) د جملې په کومو برخو کې راځي؟
۲. ټکی ( . ) دا نښه د جملې په کومه برخه کې استعمالېږي؟
۳. دوې نقطې یا شارحه ( : ) دا نښه د څه ډول جملو په پای کې استعمالېږي؟
۴. لیندۍ ( ) دا نښه په څه ډول کلمو او جملو کې لیکل کېږي؟

# لږ ویل ډېر کار کول

مــرد هــغــه چــې هــمتــناك بــرکتنـــاك
د عـــالـمــه سره خوږ په زیست و ژواك

مــخ یــې مــخ، قــول یې قــول، عــهد یې عهد
نـــه دروغ نه یې فرېب نه تش تپاك

لــږ ویــل ډېــر یې کــول پــه خاموشۍ کې
دغــونچې غوندې خوله ډکه سینه چاك

چې خــبره د پستۍ د بـلنـدۍ شي
پــه لــویي لکــه آسمان په پستۍ خاك

په تــمکین کې لــکــه صبر په پستۍ کــې
پــه هــر لــور یــې څانګې زانګي لکه تاك

لکــه ګل شګفته روی تازه پــه بـــاغ کــې
هــمېشه د ښو بلبــلــو پرې بلغاك

چې دا هسې ښه ویـــل کا زه حیــران یــم
چـــې خــوشــحال راوړلــه کــومــه دا ادراك

(خوشحال بابا)

---

سپارښتنه:

- ښاغلی ښوونکی دې د نظم په معنا او مفهوم خبرې وکړي.

**تمرین:**

- ○ پورتنی نظم په نثر ولیکئ؟
- ○ زده کوونکي دې په وار یو یو بیت ولولي او بیا دې معنا کړي؟
- ○ زده کوونکي دې د هر بیت په څېړ کار وکړي.

# د ژوند دچاپېر یال لنډ تاریخ

آیا د هوا ککړتیا یوه نوې پېښه ده او یا دا چې اوس ورته زموږ پام شوی دی؟ د هوا د ککړتیا له اقسامو څخه لکه لوګی، لړې او دوړې او فتو شېمایي نوې پدیدې دي، ددغه ډول ککړتیاوو رامنځ ته کېدل د موټرو او کارخانو په ډېرېدو پورې په مستقیمه توګه اړیکي لري. دا په داسې حال کې چې پر لوګي باندې د هوا ککړتیا له پخوا څخه هم موجوده وه، د انګلستان پاچا (لومړي ادوارد) د خپلې پاچاهۍ په زمانه کې د لندن په ښار کې د ډبرو د سکرو سوزېدل دلوګي او بوی له امله بند کړي وو، په همدې علت له اندازې څخه د زیاتو لرګیو په سوزېدو سره د انګلستان ځنګلونه په چټکۍ سره کم شول او د سلطنت د فرمان پر خلاف د ډبرو د سکرو لګښت زیات شو، په ۱۶۶۱م کال کې(جان اولین) په لندن کې د هوا او لوګي نه د راپیدا شوې نا آرامۍ په باب کتاب ولیکه. دغه کتاب په ۱۷۷۲م کال کې خپور شو.

---

سپارښتنه:

- ښاغلی ښوونکی دې د ژوند چاپېریال د لنډ تاریخ په هکله لنډې څرګندونې وکړي.
- ښاغلی ښوونکی دې زده کوونکي وهڅوي چې د ژوند چاپېریال د ساتلو په اړه خپل معلومات نورو ته وړاندې کړي.
- زده کوونکي دې د لوستل شوي متن مطلب په خو کرښو کې ولیکي.

# بشري حقونه

انساني ټولنه چې د طبيعت جز دی، په هغې کې انسان نه شي کولی له نظم او د سپلين پرته ژوند وکړي، له ډېرو لرغونو زمانو را هيسې عالمان په ټولنه کې موجود و قوانينو ته متوجه شوي او په دې پوهېدل چې په انساني ټولنه کې هم بايد قوانين موجود وي، ځکه له قوانينو پرته د نظم د ټينګېدو امکان نشته. نو له هغې وروسته په انساني ټولنو کې پوهانو قوانين وضع کړل او د هغو په رڼا کې يې خپل ژوند ته دوام ورکړ، د جهان ټول هېوادونه قوانين لري، په لومړۍ او دويمه نړيواله جګړه کې بشريت ډېر زيات ځاني او مالي زيانونه وليدل چې له دويمې نړيوالې جګړې نه وروسته د انسانانو د سوکالۍ په خاطر د ملګرو ملتو موسسه جوړه شوه چې اوس د ټولو هېوادونو نمايندګۍ په کې شته، دغې موسسې د نورو قوانينو تر څنګ د بشر د حقونو په نامه يوه اعلاميه خپره کړه، دغه اعلاميه د دغې موسسې ټولو برخه والو هېوادونو لاسليک کړې ده چې په منلو يې ټول ژمن هيوادونه مکلف دي.

دغه اعلامیه وایي : ټول بشري وګړي آزاد دنیا ته راځي او د حیثیت او حقونو له پلوه برابر دي، هېڅوك په خپل سر بندي، توقیف او شړل کېدای نه شي، هېڅوك د چا په خصوصي ژوند کې مداخله نه شي کولی، هر څوك د ښوونې او روزنې حق لري، ټول خلك له توپیر پرته له هغو حقوقو او ازادیو څخه ګټه اخیستی شي چې د بشر د حقونو په اعلامیه کې یې یادونه شوې ده. نو هر انسان په دې مکلف دی چې د قوانینو په چوکاټ کې خپل ژوند عیار کړي او د هغو په رڼا کې ټول بشري حقونه وپېژني او په عمل کې یې پلي کړي.

---

تمرین:

- زده کوونکي دې د بشر د حقونو په اړه څو کرښې مقاله ولیکي.

پوښتنې:

۱. د ملګرو ملتونو په اعلامیه کې د بشر د حقونو په اړه څه ویل شوي دي؟

۲. ټول انسانان که نرینه دي او که ښځې د اسلام د سپیڅلي دین له مخې په ټولنه کې کوم حقونه لري؟

۱۶ جوزا ۱۳۸۱
کمیسیون مستقل حقوق بشر
افغانستان

# د حیثیت، حقوقو او ټولنیزو مسؤولیتونو له مخی له نارینه ووسره د ښځو برابری

د هجرت په شپږم کال حضرت پیغمبر(ص) د حج نیت وکړ، مکې ته چې نږدې شو مکې مکرمې ته د داخلېدو د مخنیوي لپاره یې د مکې له مشرکینو سره په خبرو پیل وکړ ، او په پای کی د حدیبې تړون لاسلیک شو.
د حدیبې په تړون کې یو شرط دا و چې پیغمبر (ص) به سږ کال بیرته مدینې ته ولاړ شي او په راتلونکي کال کې به د مکې زیارت ته راشي.
د حدیبې د سولې په تړون کې حضرت محمد(ص) د خپلې میرمنې حضرت ام سلمی (رض) په مشوره ځای انتخاب کړ. حضرت محمد(ص) په هغه ورځ خپلو یارانو ته امر وکړ چې خپلې قرباني وکړي او مدینې ته وګرځي، دحضرت محمد(ص) یارانو د زیارت مینه درلوده نه یې غوښتل چې مکې ته له تګ پرته مدینې ته ولاړ شي.
حضرت محمد(ص) د حضرت ام سلمی(رض) خیمې ته دننه کېدو کې وویل: اصحاب مې هلاک شول، څرنګه چې سوله لاسلیک شوې وه. پدې وخت کې ام سلمی (رض) حضرت محمد (ص) ته مشوره ورکړه او ویی ویل :
اي د خدای استازیه (ص) تاسو لومړی خپله پیل وکړئ نو مسئله به حل شي.
حضرت محمد (ص) ام سلمی په مشوره خپله قرباني ذبح او خپل ویښتان یی کل کړل . اصحابو هم سمدستي د خپلو قربانیو په ذبح کولو پیل وکړ ، پدې ډول بحران پاي ته ورسېد. دغه کار دې ته اشاره کوي چې د تصمیمونو په نیولو اود ټولنیزو مسؤولیتونو په سرته رسولو کې ښځې له نارینه وو سره برابري لري.

۱۶ جوزا ۱۳۸۱
د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون

*د دواړو رضائیت (ښځه او نرینه) دمیرمنې او میړه په ټاکلو کې دکورنۍ او ټولنې سلامتي ده.*

.............................................

کورنۍ د ټولنې اساسي رکن دی او د دولت تر پاملرنې لاندې ده.
(دافغانستان داساسي قانون له څلورپنځوسمې مادې څخه)

کورنۍ دټولنې دجوړولو ستنه ده او واده کول د هغې بنسټ جوړوي، نوځکه ښځې او نرینه د واده کولو حق لري او هیڅ داسې یوبندیز چې دنژاد ، رنګ او یاهم دقوم له مخې وي، نه شي کولای چې د دغه حق مخه ونیسي.
(دبشري حقونو داسلامي اعلامیې پنځمه ماده، دالف بند)

# مخدره توکي

د ژوند د پاينښت په خاطر د تاريخ په اوږدو کې انساني څېړنو په زړه پورې پايلې تر لاسه کړې دي هغه مواد چې غذايي خواص لري او د انسان په بدن کې شحمي، پروتيني، قندي مواد او نور راز راز ويټامينونه پيدا کوي لکه مېوې، سابه، غوړي، غوښه، منې، انګور او په سل ګونو نور شيان دا هغه څه دي چې د ژوند بقا او روغتيا، اوږد او سوکاله ژوند ور پورې تړلی دی، د دې پر خلاف مخدره مواد لکه ترياك، چرس، شراب او داسې نور چې له ټولوڅخه وژونکې ماده هيروييين هم په کې شامل دي نه يوازې دا چې غذايي او روغتيايي ارزښت نه لري کله چې د انسان بدن ته داخل شي د يو لړ بدني ويجاړتياوو نه وروسته بېرته دفع کېږي، مخدره مواد اصلاً په بدن کې له تخريب پرته بله دنده نه لري، لکه هيروييين چې په بدن کې وينه وچوي او روږدي کسان په لږه موده کې د مرګ کندې ته غورځوي، هغه کسان چې په مخدره موادو عادت شي نه يوازې دا چې خپل ژوند له حتمي نابودۍ سره مخامخ کوي بلکې ټول انساني صفتونه لکه ښوونه او روزنه، ټولنيز ژوند، له خپلوانو، دوستانو او همنوعانو سره د ضرورت په وخت کې مرسته، اخلاقي معيارونه او په يو ټکي کې انساني شخصيت له لاسه ورکوي، د خپلوانو، قوميانو او هيوادوالو په ګډون هر څوك ورته د کرکې او نفرت په سترګه ګوري، ځکه روږدي کسان د ټولنې پر اوږو بار وي او پرته له دې چې ټول عمر يې په تصور کې تېرېږي د ژوند د چارو په تر سره کولو کې فعاله

ونډه  نه شي اخيستی او ان له انساني ټولنې څخه لرې وځي ځکه انسان له ټولنې سره د نژدې اړيکو له مخې خپل ځان او ټولنې ته ډېره ګټه رسوي او په ټولنه کې خپل شخصيت په نورو باندې د خپل اهليت له برکته مني.

له دغو لنډو څرګندونو څخه دا پايله تر لاسه کېږي چې مخدره مواد د بشريت په لومړۍ درجه دښمنانو کې راځي، ځينې بد مرغه ځوانان پر دغو موادو باندې د احساساتو له مخې او له روږدو کسانو سره د اړيکو له لارې اخته کېږي. په داسې حال کې چې د ښو او بدو تميز د عقل دنده ده، نو بايد د يوې انساني وظيفې په حيث دا په ياد وساتو چې زموږ ټول کړه وړه د عقل په رڼا کې تر سره شي چې بيا له وروستۍ پښېمانۍ څخه چې په دغه وخت کې ګټه نه لري وژغورل شو.

له پورتنيو لنډو څرګندونو څخه جوتېږي چې مخدره مواد او انسانيت دوه متضاد شيان دي، نو اوس د هر چا خوښه چې مخدره مواد ښه بولي او که انسانيت؟

---

| لغت: | معنی: |
|---|---|
| توکي | مواد، اجزا |
| پايلې | نتيجې |
| روږدي | معتاد، عادت |
| ونډه | برخه |
| بدمرغه | بدبخته |

❖ ښاغلی ښوونکی دې د مخدره موادو د زيانونو په هکله څرګندونې وکړي.

❖ زده کوونکي دې د مخدره موادو نومونه واخلي او بيا دې د زيانونو په هکله څوکرښې په خپلو کتابچو کې وليکي.

د نشه يي توکو پرضد مبارزې وزارت

مخدره توکي ستاسې کورنۍ او
ټولنې ته ضرر رسوي.

نشه تاسې د همزولو له سيالۍ څخه غورځوي او
کورنۍ مو له بد مرغۍ سره مخ کوي، ځان ترې وساتئ!

له نشو سره مرګوني ناروغۍ ملګرې دي لکه: ايډز،
زيړی او داسې نور.